# دافغانستان اسلامي جمهوریت

# دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق العاده ګڼه

- د سوداګریز حکمیت قانون.
- د سوداګریز منځګړیتوب(د مصالحې) قانون.
- د تضامني شرکتونو قانون.
- د سهامي او محدود المسؤولیتو شرکتونو قانون.

- قانون حکمیت تجارتی.
- قانون میانجیگری (مصالحه) تجارتی.
- قانون شرکت های تضامنی.
- قانون شرکت های سهامی و محدود المسؤولیت.

د خپریدو نیټه:د **۱۳۸۵** هـ .ش کال د سلواغې د میاشتې (۱۰) پرله پسې نمبر (۹۱۳)

تاریخ نشر : (۱۰) دلو سال **۱۳۸۵** هـ . ش نمبر مسلسل (۹۱۳)

در این شماره:

۱- فرمان شماره (۹۵) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ رئیس جمهوري اسلامي افغانستان در مورد توشیح قانون حکمیت تجارتي.
قانون حکمیت تجارتي صفحه (۱-۵۳).
۲- فرمان شماره (۹۸) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ رئیس جمهوري اسلامي افغانستان در مورد توشیح قانون میانجیگري (مصالحه) تجارتي.
قانون میانجیگري (مصالحه) تجارتي صفحه (۵۴-۶۷).
۳- فرمان شماره (۹۹) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ رئیس جمهوري اسلامي افغانستان در مورد توشیح قانون شرکت هاي تضامني.
قانون شرکت هاي تضامني صفحه (۶۸-۱۸۱).
۴- فرمان شماره (۱۰۰) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ رئیس جمهوري اسلامي افغانستان در مورد توشیح قانون شرکت هاي سهامي و محدود المسؤولیت.
قانون شرکت هاي سهامي و محدود المسؤولیت صفحه (۱۸۲-۳۰۰).

د امتیاز خاوند : دعدلیې وزارت
مسؤول چلوونکی : عبدالرشید "قیومي"
مرستیال : نورعلم
مهتمم : محمد جان

# رسمي جريده

| د افغانستان اسلامي جمهوریت | جمهوری اسلامی افغانستان |
|---|---|
| گڼه :(۱٦۸۳۵) | شماره: (۱٦۸۳۵) |
| نېټه :۱۳۸۵/۱۰/۲۸ | تاریخ:۱۳۸۵/۱۰/۲۸ |

**دعدلیې وزیر محترم سرور دانش!**

دسوداگریزحکمیت قانون چې د وزیرانو د شورې د ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ نېټې د(۳۵) گڼې مصوبې پربنسټ په (۹) فصلونو او (٦۰) مادو کې تصویب شوی او زموږ له لوري د ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ نېټې د(۹۵)گڼې تقنیني فرمان په توگه توشیح شوی دی، تاسوته در واستول شوځیې په رسمي جریده کې په خپرولو اقدام وکړئ.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**محترم سرور دانش وزیرعدلیه!**

قانون حکمیت تجارتی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۳۵) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ شورای وزیران بداخل (۹) فصل و(٦۰)ماده تصویب گردیده و ازجانب مابه حیث فرمان تقنینی شماره (۹۵) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ توشیح گردیده است،بشما ارسال شد تا به نشر آن در جریده رسمی اقدام نمائید.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د سوداگريز حکميت**

**د قانون د توشيح په هکله، د**

**افغانستان د اسلامی جمهوريت**

**د رئيس فرمان**

گڼه (۹۵)

نېټه : ۱۳۸۵/۱۰/۲۷

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (۷۹) مادې د حکم له مخې د سوداگريز حکميت قانون چې د وزيرانو د شوري د ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ نېټې د (۳۵) گڼې مصوبې پر بنسټ په (۹) فصلونو او (۶۰) مادو کې تصويب شوی دی، د تقنيني فرمان په توگه توشيح کوم.

**دوه يمه ماده :**

د ا.ا.ج عدليې وزير او په پارلماني چارو کې د دولت

**فرمان**

**رئيس جمهوری اسلامی**

**افغانستان در مورد توشيح**

**قانون حکميت تجارتی**

شماره: (۹۵)

تاريخ: ۱۳۸۵/۱۰/۲۷

**مادۀ اول:**

به تاسی از حکم مادۀ (۷۹) قانون اساسی افغانستان قانون حکميت تجارتی را که به اساس مصوبۀ شماره (۳۵) مورخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ شورای وزيران بداخل (۹) فصل و (۶۰) ماده تصويب گرديده است، به حيث فرمان تقنينی توشيح ميدارم.

**مادۀ دوم:**

وزير عدليۀ ج.ا.ا و وزير دولت در امور پارلمانی

وزير موظف دي، دغه قانون د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې ملي شورې ته وړاندې کړي.

درېيمه ماده :

دغه تقنيني فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي**

**جمهوريت رئيس**

موظف اند این قانون را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسه شورای ملی به شورای ملی تقدیم نماید.

**مادۀ سوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و درجریده رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

## فهرست مندرجات

## قانون حکمیت تجارتی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|

### فصل اول

### احکام عمومی


مادۀ اول : هدف................................................ ۱
مادۀ دوم : اصطلاحات........................................... ۱
مادۀ سوم : طرز حکمیت........................................ ۳
مادۀ چهارم : ساحه تطبیق ........................................ ۴
مادۀ پنجم : مذاکره مستقیم....................................... ۵
مادۀ ششم : دریافت مراسلات کتبی ............................... ۵
مادۀ هفتم : رسیدگی به حکمیت .................................. ۶
مادۀ هشتم : عدم مداخله در امور حکمیت ........................ ۶
مادۀ نهم : توحید قرار های حکمیت............................... ۷
مادۀ دهم : حفظ قرار های حکمیت ............................... ۸
مادۀ یازدهم : بازرسی ............................................. ۸
مادۀ دوازدهم : طرز فعالیت ....................................... ۹

## فصل دوم

## موافقتنامه حکمیت

مادۀ سیزدهم : موافقه حکم ها ..................................... ۱۱
مادۀ چهاردهم : درج حکمیت در قرار داد ......................... ۱۲
مادۀ پانزدهم : رسیدگی محکمه به موضوع حکمیت ............. ۱۲
مادۀ شانزدهم : احاله منازعه به حکمیت تجارتی .................... ۱۳

## فصل سوم

## بورد حکمیت

مادۀ هفدهم : ترکیب بورد حکمیت ............................. ۱۴
مادۀ هجدهم : مانع تابعیت در روند حکمیت ..................... ۱۵
مادۀ نزدهم : طرز تعیین حکم .................................... ۱۵
مادۀ بیستم : معرفی حکم ......................................... ۱۸
مادۀ بیست ویکم : رد حکم ......................................... ۱۸
مادۀ بیست ودوم : تصمیم بورد حکمیت در مورد رد حکم ........... ۱۹
مادۀ بیست و سوم: تصمیم محکمه در مورد رد حکم ................. ۲۰
مادۀ بیست و چهارم: ختم ماموریت حکم ................................ ۲۱

## فصل چهارم
## صلاحیت بورد حکمیت

مادۀ بیست و پنجم: صلاحیت های بورد حکمیت ........................۲۳
مادۀ بیست و ششم : ادعای رد صلاحیت بورد حکمیت ....................۲۴
مادۀ بیست و هفتم : تصمیم بورد حکمیت ..............................۲۵
مادۀ بیست و هشتم: صدور قرار محکمه ................................۲۵
مادۀ بیست و نهم : اتخاذ تدابیر احتیاطی..............................۲۶

## فصل پنجم
## اجرای رسیدگی حکمیت

مادۀ سی ام : برخورد منصفانه ..................................۲۷
مادۀ سی و یکم : اجراآت طبق طرزالعمل ............................۲۷
مادۀ سی و دوم : تعیین دفتر حکمیت ...............................۲۸
مادۀ سی و سوم : تعیین محل حکمیت ...............................۲۹
مادۀ سی و چهارم : آغاز رسیدگی به حکمیت ..........................۳۰
مادۀ سی و پنجم : استفاده از زبان ها در روند حکمیت ...............۳۰
مادۀ سی و ششم : ارائه دلایل ادعا و دفاعیه ..........................۳۱
مادۀ سی و هفتم : اصلاح و تکمیل دفاعیه ............................۳۲
مادۀ سی و هشتم: اطلاعیه تدویر جلسات ............................۳۳
مادۀ سی و نهم : جمع آوری معلومات ...............................۳۳
مادۀ چهلم : ادامه به حکمیت ....................................۳۴

مادۀ چهل و یکم : تعیین متخصص ...................................۳۵
مادۀ چهل و دوم : درخواست اسناد ....................................۳۶


## فصل ششم

## صدور قرار حکمیت و خاتمۀ رسیدگی


مادۀ چهل و سوم : قانون قابل تطبیق ...................................۳۷
مادۀ چهل و چهارم : عدم تعیین حکم منحیث میانجی ..................۳۷
مادۀ چهل و پنجم: طرز اتخاذ تصمیم ....................................۳۸
مادۀ چهل و ششم : قرار حکمیت ..........................................۳۸
مادۀ چهل و هفتم: مندرجات قرار حکمیت ..............................۳۹
مادۀ چهل و هشتم: ختم روند رسیدگی حکمیت ........................۴۱
مادۀ چهل و نهم : اصلاح اشتباهات ......................................۴۲
مادۀ پنجاه ام : صدور قرار تکمیلی ......................................۴۳
مادۀ پنجاه و یکم: تمدید میعاد ..........................................۴۳
مادۀ پنجاه و دوم : رعایت ماده چهل وهشتم ...........................۴۴


## فصل هفتم

## اعتراض به قرار


مادۀ پنجاه و سوم : فسخ قرار حکمیت ...................................۴۴
مادۀ پنجاه و چهارم: معیاد درخواست فسخ ..............................۴۷
مادۀ پنجاه و پنجم : رسیدگی مجدد بورد ...............................۴۷

## فصل هشتم
## تطبیق قرار حکمیت

مادهٔ پنجاه و ششم : تطبق و رد قرار حکمیت ..........................۴۸
مادهٔ پنجاه و هفتم: ارائه اصل سند ..................................۵۱
مادهٔ پنجاه و هشتم : ارائه تضمین ....................................۵۱

## فصل نهم
## احکام نهائی

مادهٔ پنجاه و نهم : وضع مقرره و طرزالعمل ها .....................۵۲
مادهٔ شصتم: تاریخ انفاذ ......................................۵۳

# رسمي جريده

بسم الله الرحمن الرحيم

## دسوداگريزحكميت قانون

## لومړی فصل

## عمومي حكمونه

**موخه**

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون دسوداگريز اواقتصادي حكميت په هكله دافغانستان او نورو دولتونو ترمنځ دعقد شوو موافقه ليكونو له په پام كې نيولو سره،دحكميت له لارې د سوداگريزو او اقتصادي شخړو دچټک،عادلانه او بې پلوه حل اوفصل داسانولو او هڅوني اوپه هغوپورې د اړوند چارو دتنظيم په منظور،وضع شوى دى.

**اصطلاحگانې**

**دوه يمه ماده :**

پدې قانون كې لاندې اصطلاحگانې دغه مفاهيم افاده كوي:

۱- حكم:هغه شخص دى چې په

## قانون حكميت تجارتى

## فصل اول

## احكام عمومى

**هدف**

**مادۀ اول:**

اين قانون بمنظور تسهيل و تشويق حل و فصل سريع، عادلانه و بيطرفانۀ منازعات تجارتى واقتصادى از طريق حكميت بانظرداشت موافقتنامه هاى منعقده ميان افغانستان وساير دول در مورد حكميت تجارتى واقتصادى و تنظيم امور مربوط به آن،وضع گرديده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتى در اين قانون مفاهيم ذيل را افاده مينمايد:

۱-حكم: شخص است كه وظيفۀ

سوداگریزو شخړو کې دحکمیت دنده په غاړه لري.

۲- حکمیت:هغه لازم الاجراء عملیه ده چې پربنسټ یې حکم یا حکمان یادحکمیت اداره د اړخونو دغوښتنې او موافقې یادمحکمې دقرارله مخې داقتصادي او سوداگریزو معاملو له قرارداد څخه د راپیدا شوو شخړو دچټک او عادلانه حل اوفصل په منظور، بې پلوه خدمتونه سرته رسوي.

۳- دحکمیت موافقه لیک:حکم ، حکمانویادحکمیت بورډته له قرارداد یا پرته له هغهٔ څخه د راپیدا شوو شخړو دبشپړې یا یوې برخې د احالې په اړه، د اړخونو(په ماده واره توگه یا له هغې پرته)لیکلی موافقه لیک دی.

۴-دحکمیت قرار:هغه وروستی تصمیم دی چې دحکم،حکمانو یا دحکمیت د بورډ یا محکمې لخوا دشخړې دحل اوفصل په هکله نیول

حکمیت را در منازعات تجارتی به عهده دارد.

۲-حکمیت: عملیهٔ لازم الاجرایی است که به اساس آن حکم یا حکم ها یا ادارهٔ حکمیت بالاثر تقاضا و توافق طرفین یا قرار محکمه ، خدمات بیطرفانه را بمنظور حل و فصل سریع و عادلانهٔ منازعات ناشی از قرارداد معاملات اقتصادی و تجارتی، انجام میدهند.

۳-موافقتنامهٔ حکمیت: موافقتنامهٔ کتبی طرفین(طورماده وار یا غیر آن) مبنی بر احالهٔ کلی یا قسمی منازعات ناشی از قرارداد یا غیر آن به حکم، حکم ها یا بورد حکمیت میباشد.

۴-قرارحکمیت: تصمیم نهایی است که ازطرف حکم ،حکم ها یا بورد حکمیت یا محکمه در مورد حل وفصل منازعه اتخاذ

کېږي.

۵-سوداگریزه معامله:دسوداگریز او اقتصادي ماهیت لرونکو مناسباتو ټولې مسئلې دي چې دقرارداد یا له هغۀ پرته، پرېنستې ولاړې وي.

۶-محکمه:دافغانستان واکمنه سوداگریزه محکمه ده.

۷-دمرکزي ثبت دفتر:هغه اداره ده چې په حکمیت پورې اړوند سندونه پکې ثبت اوساتل کېږي.

## دحکمیت ډول

درېیمه ماده :

(۱) حکمیت په دوو(نړیوالې او کورنۍ) طریقو صورت موندلی شي.

(۲)حکمیت په لاندې حالاتو کې نړیوال گڼل کېږي:

۱-په هغۀ صورت کې چې په قراردادکې تصریح شوي وي.

۲-په هغۀ صورت کې چې سوداگریزې اواقتصادي معاملې

میگردد.

۵-معاملۀ تجارتی: کلیه مسایل شامل مناسبات دارای ماهیت تجارتی و اقتصادی که به اساس قرارداد یا غیر آن استوار باشد.

۶-محکمه: محکمۀ ذیصلاح تجارتی افغانستان میباشد.

۷-دفتر ثبت مرکزی: اداره ای است که اسناد مربوط حکمیت درآن ثبت و نگهداری میگردد.

## طرز حکمیت

مادۀ سوم:

(۱) حکمیت به دو طریقه(بین المللی و داخلی) صورت گرفته میتواند.

(۲)حکمیت در حالات ذیل بین المللی دانسته میشود:

۱- درصورتیکه درقرارداد تصریح شده باشد.

۲- درصورتیکه معاملات تجارتی واقتصادی بین چند کشور

دڅوهېوادونو ترمنځ وي اوپه قرارداد کې تصريح شوې نه وي.

(۳)په قراردادکې دنه درج په صورت کې،دهغهٔ هېواد دحکميت قانون چې اړخونه پکې سوداګريزې معاملې سرته رسوي، تطبيقېږي.

(۴)هغه احوال چې ددې مادې په (۱)فقره کې اټکل شوي نه وي،کورنی حکميت ګڼل کېږي.

## دتطبيق ساحه

### څلورمه ماده :

(۱)ددې قانون حکمونه يوازې په هغوحالاتوکې دتطبيق وړ دي چې دحکميت ځای افغانستان وي. ددې قانون په يوولسمه ماده کې درج شوی حکم او په اووم فصل کې د شاملو مادو حکمونه لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲)ددې قانون حکمونه دهغو مشخصو شخړوپه هکله چې دحکميت تابع ندي يايې

بوده و درقرارداد تصريح نشده باشد.

(۳)درصورت عدم درج در قرارداد، قانون حکميت کشوريکه ،در آن طرفين، معاملات تجارتی را انجام ميدهند، تطبيق ميگردد.

(۴) احواليکه در فقرهٔ (۱) اين ماده پيش بينی نگرديده باشد، حکميت داخلی دانسته ميشود.

## ساحهٔ تطبيق

### مادهٔ چهارم:

(۱)احکام اين قانون صرف درحالاتی قابل تطبيق است که محل حکميت افغانستان باشد.حکم مندرج مادهٔ يازدهم اين قانون و احکام مواد شامل فصل هفتم از اين حکم مستثنی اند.

(۲)احکام اين قانون در مورد منازعات مشخصی که تابع حکميت نبوده يا حل و فصل

حل اوفصل د نورو تقنيني سـندونو پربنسټ تنظيم شوي وي، دتطبيـق وړندي.

## مستقيمې خبرې اترې

پنځمه ماده :

ددې قانون حکمونـه، دمـستقيمو خبـرو اتـرو، منځګړيتـوب يـا دسوداګريزو او اقتصادي شخړو حل اوفصل ته د ورته لارو چـارو لـه لارې،دحکميت د اړخونو داقتصادي اوسوداګريزوشخړو دحل اوفـصل خنډنه کيږي.

## دليکلومراسلو ترلاسه کول

شپږمه ماده :

ليکلې مراسلې په هغهٔ صورت کـې ترلاسه شوې ګڼل کيږي چې شخصاً مرسل اليه ته وسپارل شـي يـا د راجستري پست ياهغو وسايلو پـه واسطه چې دهغو دتسليمولو اهتمام يې ښودلی وي اوپه افغانستان کې د مرسل اليه د سـوداګرۍ دځـاى راجستر شوي آدرس ته ورتـسليم

آن به اساس ساير اسـناد تقنينـی تنظـيم گرديـده باشـد، قابـل تطبيق نيست.

## مذاکرهٔ مستقيم

مادهٔ پنجم:

احکام اين قانون مانع حل و فصل منازعـات اقتـصادی وتجـارتی طـرفين حکميـت، ازطريـق مذاکرات مـستقيم، ميـانجيگری يا شيوه های شبيه حـل و فـصل منازعـات تجـارتی و اقتـصادی نمی گردد.

## دريافت مراسلات کتبی

مادهٔ ششم:

مراسـلات کتبـی درصـورتی دريافت شده تلقی ميگـردد کـه شخصاً به مرسل اليه سپرده شـود يا توسط پست راجستری يا سـاير وسـايلی کـه اهتمـام تـسليمی آن را نـشان داده و بـه آدرس راجستر شدهٔ محل تجارت مرسل اليـه در افغانـستان تـسليم

شي. پدې صورت کې مراسلې دهغو دتسلیمۍ په ورځ ،ترلاسه شوې ګڼل کېږي،خوداچې بل ډول يې موافقه کړې وي. دغـــه حکـــم يـــوازې پرهغومراســـلو تطبيقېـــږي چـــې دحکميـــت دڅېړنـــې (رســـيدګۍ) په هکله وي.

## حکميت ته رسيدګي

اوومه ماده :

حکميت دقضيې درسيدګۍ له ورځې څخه پيل کېږي. حکم اړخونوتـــه دځواب د وړاندې کولو لپاره موده ټاکي ، که چېـــرې اړخ د ټـــاکلې مودې په ترڅ کې خپـــل ســـندونه وړاندې نکړي، داسې ګڼل کېـــږي چې دخپل اعتراض له حق څخه يې صرف نظرکړی دی.

## دحکميت په چارو کې نه لاسوهنه

اتمه ماده :

محکمه يـــا دولتـــي ادارې نـــشي کولای،پدې قانون کې د درج شوي حکميت په چارو کـــې لاســـوهنه

داده شـــود. در ايـــن صـــورت مراســـلات در روز تـــسليمی آن دريافت شده پنداشـــته ميـــشود، مگراينکـــه طـــوردیگری موافقـــه نموده باشند. اين حکـــم صـــرف برمراسلاتی تطبيق ميگـــردد کـــه درمورد رسيدگی حکميت باشد.

## رسيدگی به حکميت

مادۀ هفتم:

حکميت از روز رسيدگی قـــضيه آغاز ميگردد. حکم برای طـــرفين مدت را غرض ارائۀ جواب تعيـــين مينمايد. هرگاه طرف در خـــلا ل مدت معينه اسناد خـــود را ارائـــه ننمايد، چنين پنداشته ميشود که از حق اعتراض خود صـــرف نظـــر نموده است.

## عدم مداخله در امور حکميت

مادۀ هشتم:

محکمه يا ادارات دولتی نميتوانند در امور حکميت مندرج اين قانون مداخله نمايند، مگراينکه درايـــن

وکړي، خو داچې پدې قانون کې بل ډول تصریح شوي وي.

## دحکمیت دقرارونو توحید

نهمه ماده :

(۱)حکم،حکمان یا دحکمیت بورډ کولای شي د اغېزمنتیا د زیاتولو او دشخړو له متعارض حل اوفصل څخه د ډډې کولو په منظور، دحکمیت څېړنې توحید او دعین شخړې یا شخړو د اړخونو موافقه ترلاسه کړي.

(۲)که چېرې محکمه تشخیص کړي چې دڅېړنې توحیداو د عین شخړې یا شخړو د اړخونو یووالی ، دحکمیت دقرارونو داغېزمنتوب دښه والي یا یې دیوځېلوالي سبب کېږي،پدې صورت کې کولای شي دعین شخړې یا شخړو د اړخونو دغوښتنې له مخې د حکمیت دڅېړنې په توحید حکم وکړي.

قانون طور دیگری تصریح شده باشد.

## توحید قرارهای حکمیت

مادهٔ نهم:

(۱)حکم ،حکم ها یا بورد حکمیت میتواند بمنظور افزایش موثریت و اجتناب از حل و فصل متعارض منازعات، رسیدگی های حکمیت را توحید و موافقهٔ طرف های عین منازعه یا منازعات را حاصل نماید.

(۲)هرگاه محکمه تشخیص نماید که توحید رسیدگی و اتحاد طرف های عین منازعه یا منازعات سبب بهبود موثریت یا یکسان بودن قرار های حکمیت میگردد، دراینصورت میتواند بالاثر درخواست طرفین عین منازعه یا منازعات به توحید رسیدگی حکمیت، حکم نماید.

**دحکمیت دقرارونو ساتل**

**لسمه ماده :**

(۱)دحکم،حکمانو یـا دحکمیـت دبورډ اجراآت اوصادرشوي قرارونه يې په محرمه توگه ســاتل کیــږي، خوداچې اړخونو پدې برخه کې بل ډول موافقه کړې وي.

(۲)محکمه دعین شخړې یا شخړو د اړخونو دغوښتنې له مخې، دحکمیت د بــورډ داجراآتــو او صـــادرو شووقرارونو دمحرمیت دتــأمینولو لپاره ، لازم تدبیرونه نیسي.

**پلټنه**

**یوولسمه ماده :**

حکــم ،حکمــان یــا دحکمیــت بورډ،دشــخړوحل اوفــصل تــه دڅیړنې(رسیدگی)،څیړنې ته له نــه اقدام یا دحکمیت د قرار صادرولو ته له اقدام نه کولو څخه ،ترپوښتنې لاندې نشي نیول کېدی،خوداچې له اړخونوڅخه دیوۀ د ادعا له مخــې پدې اړه چې څیړنې ته پــه اقــدام،

**حفظ قرار های حکمیت**

**مادۀ دهم:**

(۱)اجراآت حکم، حکم هــا یــا بورد حکمیت و قرارهای صــادرۀ آنهاطور محرم حفــظ میگــردد، مگراینکه طرفین درزمینــه طــور دیگری موافقه نموده باشند.

(۲)محکمه بالاثر درخواست طرف های عین منازعه یا منازعات، جهت تأمین محرمیت اجــراآت بــورد حکمیت و قرارهای صادره، تدابیر لازم را اتخاذ مینماید.

**بازرسی**

**مادۀ یازدهم:**

حکم، حکم ها یا بورد حکمیت از رسیدگی حل وفصل منازعات، عدم اقدام به رسیدگی و یا صدور قرار حکمیت، مورد بازپرس قرارگرفته نمیتوانند،مگراینکــــه بـــــالاثر ادعای یکی از طرفین مبنی براینکه اقدام به رسیدگی ، عــدم اقــدام به رســیدگی یــا صــدور قــرار

ځېرنې يادقرار دصادرېدو نه اقدام دنفوذ دکارولو،دګټودتضاد يا ارتشاء له امله صورت موندلی وي.

## دفعاليت ډول

دوولسمه ماده :

(۱) حکم،حکمان يا دحکميت بورډ کولای شي د اړوندو قوانينو دحکمونو مطابق، دسوداګريزو او اقتصادي شخړو دحل دخدمتونو د اجراء په منظور،دسهامي يا تضامني شرکت په توګه رامنځته او دمرکزي ثبت په دفتر کې ثبت شي.حکم بايد لږترلږهٔ دحقوقو يا شرعياتو د پوهنځيو ديپلوم ولري.

دمرکزي ثبت دفتر،دحکم دنوم دثبت له بشپړېدو وروسته،د حقوقوياشرعياتوله پوهنځيو څخه دحکمانودهريوهٔ د فراغت د ديپلوم دثبوت يا وړاندې کولو يا دا چې نوموړی دحکمانو ديوې ټولنې فعال غړی دی، په شمول د اړوندو تجربو اوتحصيلاتو سوابق ، پداسې

ناشی از اعمال نفوذ، تضاد منافع يا ارتشاء صورت گرفته باشد.

## طرز فعاليت

مادهٔ دوازدهم:

(۱)حکم ،حکم ها يا بورد حکميت ميتوانند بمنظور اجرای خدمات حل منازعات تجارتی و اقتصادی منحيث شرکت سهامی يا تضامنی، مطابق احکام قوانين مربوط، ايجاد و دردفتر ثبت مرکزی ثبت گردد. حکم بايد حد اقل ديپلوم پوهنځی های حقوق يا شرعيات را داشته باشد.

دفتر ثبت مرکزی بعد از تکميل ثبت نام حکم، سوابق تجارب و تحصيلات مربوط هريک از حکم ها را به شمول ثبوت يا ارائهٔ ديپلوم فراغت از پوهنځی های حقوق يا شرعيات يا اينکه موصوف عضو فعال يکی از انجمن های حکم ها ميباشد،

ډول چې په عامه توگه دلاس رسۍ وړ وي،د(حکمانو) ترعنوان لاندې په خپلو دوسیو کې ساتي. هرشخص ازادانه کولای شي دکار دعادي وختونو په بهیر کې دغه دوسیې وڅېړي. د مرکزې ثبت په دفتر کې دنوم دثبتونې په بشپړېدو سره،حکم کولای شي خپل دحکمیت شغل اعلان او خپور کړي.

(۲)اړخونه دحکم،حکمانو یا دحکمیت دبورډ (کورنی وي یا بهرنی حکم) په ټاکلو کې آزاد دي.

(۳)حکم،حکمان یا دحکمیت بورډ اویا دسوداگرۍ خونې اوهغوته ورته کولای شي دحکمیت انجمنونه جوړکړي.

(۴)دافغانستان دحکمیت انجمنونه کولای شي دحکمیت له بهرنیو او نړیوالوانجمنونوسره خپلې اړیکې تأمین کړي.

طوریکه بصورت عام قابل دسترسی باشد در دوسیه های خود تحت عنوان (حکم ها) نگهداری مینمایند. هرشخص آزادانه میتواند درجریان اوقات عادی کار این دوسیه ها را بررسی نماید. با اکمال ثبت نام در دفتر ثبت مرکزی،حکم میتواند شغل حکمیت خود را اعلان و انتشارنماید.

(۲)طرفین در انتخاب حکم ،حکم ها یا بورد حکمیت(اعم ازحکم داخلی یا خارجی) آزاد میباشند.

(۳)حکم، حکم ها یابورد حکمیت ویا اتاق های تجارت و امثال آنها میتوانند انجمن های حکمیت را ایجاد نمایند.

(۴) انجمن های حکمیت افغانستان میتوانند با انجمن های حکمیت خارجی و بین المللی روابط خویش راتأمین نماید.

## دوه یم فصل

## دحکمیت موافقه لیک

### دحکمانو موافقه

**دیارلسمه ماده :**

د اړخونو ترمنځ دحکمیت موافقه په لیکلي توګه صورت مومي.

دحکمیت موافقه په لاندې حـــالاتو کې لیکلې ګڼل کېږي:

۱–په هغهٔ صورت کې چې موافقـــه لیک په سند کې درج او اړخونو هغه لاسلیک کړې وي.

۲–په هغهٔ صورت کې چې توافق په لیکونو او نورو لیکلو مراسلو کـــې (دالکترونیک پست په شمول) درج او ثبت شوی توافق منعکس کړي.

۳–په هغهٔ صورت کې چې موافقـــه لیکونه د ادعا یا دفاعیې په مبادله کې اظهاراوپه هغوکې له اړخونو څخـــه یودموافقـــت د موجودیـــت ادعـــا وکــــړي او بـــل اړخ هغــــه رد نکړي.

## فصل دوم

## موافقتنامهٔ حکمیت

### موافقهٔ حکم ها

**مادهٔ سیزدهم:**

موافقهٔ حکمیت بین طرفین طــور کتبی صورت میگیرد.

موافقهٔ حکمیت در حالات ذیـــل کتبی پنداشته میشود:

۱– درصورتیکه موافقه نامـــه در سند درج و طرفین آنـــرا امـــضا نموده باشند.

۲– درصورتیکه توافق درنامه هـــا و ســـــایر مراســـــلات کتبــــی (بشمول پست الکترونیـــک) درج و توافق ثبت شـــده را مـــنعکس نماید.

۳– درصورتیکه موافقه نامـــه هـــا درمبادلهٔ ادعاء یا دفاعیه اظهـــار و در آن یکی از طرفین، موجودیـــت موافقت را ادعا و طـــرف دیگـــر آنرا رد ننماید.

## په قراردادکې دحکمیت درجول

**څوارلسمه ماده :**

که چېرې په قرارداد کې دحکمیت په هکله کوم حکم یا شـرط درج شي، پرحکمیـت بانـدې موافقـه منعکسوي،پدې شرط چې قـرارداد په لیکلې توگه عقد شوی وی.

## دمحکمـې لخـوا دحکمیـت دموضوع څېړل

**پنځلسمه ماده :**

(۱) په هغهٔ صورت کې چـې پـه محکمه کې اقامه شـوې دعـوي دحکمیت د موافقه لیک تـابع وي، محکمه کولای شي ، ددې قانون له حکمونو سره دهغـې دمطابقـت د موندلو په صورت کـې، دارخونـو دغوښتنې له مخې دعوي دلومړنیـو اظهاراتو له اقامې دمخه ،حکمیت ته راجع کړي.

(۲)که چېرې ددې مادې پـه (۱) فقره کې درج شوې دعـوي پـه محکمه کې اقامه خو حل اوفـصل

## درج حکمیت درقرارداد

**مادهٔ چهاردهم:**

هرگاه درقرارداد ،حکمی یا شرطی درمورد حکمیـت درج گـردد، موافقه به حکمیـت را مـنعکس میسازد، مشروط براینکه قـرارداد طورکتبی عقد گردیده باشد.

## رسیدگی محکمه به موضـوع حکمیت

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱)درصـورتیکه دعـوی اقامـه شده در محکمه تـابع موافقتنامـهٔ حکمیت باشد، محکمـه میتوانـد درصـورت دریافـت مطابقـت آن با احکام این قـانون، بـالاثر درخواسـت طـرفین ،دعـوی را قبـل از اقامـهٔ نخـستین اظهـارات ،بـه حکمیـت را جع سازد.

(۲)هرگاه دعوی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده درمحکمه اقامـه ولـی حل و فصل نشده باشد، حکـم،

شوې نــه وي،حکم،حکمـــان يــا دحکميت بورډ کولای شي قــضيه وڅېړي او قرار صادر کړي. پــدې صورت کې محکمه خپل اجراآت ، دحکميت دڅېړنې ترپاې ته رسېدو پورې ځنډوي.

(۳)په هغهٔ صورت کې چې قــضيه دحکم، حکمانو يا دحکميت د بورډ ترڅېړنې لاندې وي، محکمه کولای شي له اړخونوڅخه ديوهٔ د غوښتنې له مخې داحتياطي تدبيرونو د نيولو په اړه قرارصادر کړي.

## سوداګريزحکميت ته دشـــخړې احاله

شپاړسمه ماده :

اړخونه کـــولای شـــي دحکميـــت دمخکني شرط يا موافقه ليک د نـــه موجوديـــت پـــه صـــورت کـــې ، دحکميت له لارې دشخړې دحـــل اوفصل په اړه خپله ليکلې موافقه چې د لاندې مطـــالبو لرونکـــې وي، د سوداګريزحکميت دفترته وړانـــدې

حکم هـــا يـــا بـــورد حکميـــت ميتواننـــد، قـــضيه را رســـيدگی و قرار صادر نمايند. دراينصورت محکمه اجراآت خود را الی خـــتم رسيدگی حکميت معطـــل قـــرار ميدهد.

(۳)درصـــورتيکه قـــضيه تحـــت رسيدگی حکم،حکم ها يا بـــورد حکميت قرارداشته باشد، محکمه ميتواند بالاثر درخواست يکـــی از طرفين قرار مبنی بر اتخاذ تـــدابير احتياطی را صادر نمايد.

## احالهٔ منازعـــه بـــه حکميـــت تجارتی

مادهٔشانزدهم:

طـــرفين ميتواننـــد درصـــورت عدم موجوديت شرط يا موافقتنامهٔ قبلی حکميـــت ،موافقـــهٔ کتبـــی خويش را مبنی بر حـــل و فـــصل منازعـــه ازطريـــق حکميـــت که حاوی مطالـــب ذيـــل باشـــد، به دفتر حکميت تجـــارتی ارائـــه

کړي:

۱–دشـــخړې د اړخونـــو يـــابې د واکمنو اســـتازو نـــوم او آدرس ، دکارځای يا پستي آدرس.

۲–دشـــخړې دموضـــوع (طلـــب اودهغه دمقدار) دڅرنګوالي شرح او په پام کې دزيان دجبران غوښتنه.

۳–دهغهٔ قراردادیادول چـــې شـــخړه ورڅخه راپيدا ياورپورې مربوطه وي.

۴–دحکم يـــا دموافقـــه شـــوو حکمـــانو دشمېرياډول،دهغوی له بشپړشهرت سره.

## درېيم فصل

## دحکميت بورډ

**دحکميـــــــت دبـــــــورډ ترکيب**

**اوولسمه ماده :**

اړخونه کـــولای شـــي دحکمـــانو شـــمېر وټـــاکي.دنـــه ټـــاکلو پـــه صـــورت کـــې حکـــم يوتن وي.

که چېرې دشخړې يولوری دولـــت وي، پدې صورت کـــې دحکمـــانو

نمايد:

۱–نام و آدرس، محل کار يا آدرس پستی طرفين منازعه و يا نمايندهٔ با صلاحيت آنها.

۲–شرح چگونگی موضوع منازعه (طلب ومقـــدار آن) و تقاضـــای جبران خسارهٔ مورد نظر.

۳–ذکر قراردادیکه، منازعه از آن ناشی و يا به آن مربوط ميباشد.

۴–ذکر حکم ياتعدادی حکم های توافق شده با شهرت مکمل آنها.

## فصل سوم

## بورد حکميت

**ترکيـــــــب بـــــــورد حکميت**

**مادهٔ هفدهم:**

طـــــرفين ميتواننـــــد تعـــــداد حکم ها را تعيين نمايند. درصورت عـــدم تعيـــين، حکـــم يکنفـــر ميباشد.

هرگاه يکی از طرفين منازعه دولت باشد، دراينصورت تعداد حکم ها

شمېر له دريو تنو څخه لږ کېدی نشي.

**دحکميت په بهيرکې دتابعيت خنډ**

اتلسمه ماده :

دشخص تابعيت دحکميت ددندې د سرته رسولو خنډ نه کېږي، خو دا چې د اړخونو په موافقه ليک کې بل ډول تصريح شوي وي.

**دحکم دټاکلو ډول**

نولسمه ماده :

(۱)که چېرې اړخونو دحکم يا حکمانو د ټاکلو پرډول موافقه نه وي کړې،حکم يا حکمان په لاندې توگه ټاکل کېږي:

۱–په هغهٔ صورت کې چې دشخړې دڅېړنې لپاره درې حکمان لازم وي،له اړخونوڅخه يوهريو،يو حکم ټاکي، پدې صورت کې، دوه ټاکل شوي حکمان دريیم حکم ټاکي.که چېرې له اړخونوڅخه هريود مقابل لوري دغوښتنليک له نېټې څخه د

از سه نفر کمتر بوده نمی تواند.

**مانع تابعيت در روند حکميت**

مادهٔ هجدهم:

تابعيت شخص مانع انجام وظيفه حکميت نمی گردد، مگراينکه درموافقتنامهٔ طرفين ،طورديگری تصريح شده باشد.

**طرزتعيين حکم**

مادهٔ نزدهم:

(۱)هرگاه طرفين بر طرز تعيين حکم يا حکم ها موافقه ننموده باشند، حکم يا  حکم ها طور ذيل تعيين ميگردند:

۱–درصورتيکه برای رسيدگی منازعه سه حکم لازم باشد،هريک از طرفين يک،يک حکم را تعيين مينمايد، دراينصورت دو حکم تعيين شده حکم سوم را تعيين ميکنند. هرگاه هريک از طرفين در خلال (۳۰) روز ازتاريخ

(۳۰)ورځو په ترځ کې ونشي کړی چې حکم وټاکي یا په هغهٔ صـــورت کې چې دوه حکمان ، دریيم حکم د دوه یم حکم دټاکلو له نېټې څخــه د(۳۰)ورځو په ترځ کې ونه ټاکي، محکمه له اړخونـــو څخــه د یــوهٔ دغوښتنلیک لـــه نېټــې ورروســـته د (۳۰)ورځو په ترځ کې حکم ټاکي.

۲–که چېرې شخړه دیوهٔ حکم پـــه واسطه حل اوفصل شي او اړخونـــه ونشي کړی چې پدې هکله موافقې ته ورســـېږي،پدې صـــورت کـــې محکمه له اړخونوڅخـــه دیـــوهٔ د غوښتنلیک له نېټـــې څخـــه د(۳۰) ورځو په ترځ کې حکم ټاکي.

(۲)که چېـــرې اړخونـــو دحکمـــانو دټاکلوپه ډول موافقه کړې وي، خوله اړخونوڅخـــــــه یودحکمـــــــانو دټاکلودکړنلارې مطابق عمل ونکړي یااړخونه یاحکمـــان ونـــشي کـــړی دکړنلارې مطابق،متوقعه موافقې تـــه ورسېږي یا دحکمیت د دفتـــر پـــه

درخواست طرف مقابـــل نتواننـــد حکم را تعیین نمایند یا درصورتیکه دوحکم ،حکم سوم را درخـــلا ل (۳۰) روز از تاریخ تعیین حکـــم دوم، انتخاب ننمایند، محکمه حکم را در خـــلا ل (۳۰) روز بعـــد از تاریخ درخواست یکی از طـــرفین تعیین میکند.

۲–هرگاه منازعه توسط یک حکم حل و فصل شود و طرفین نتوانند در مورد به موافقـــه برســـند، در اینصورت محکمه درخلال (۳۰) روز از تـــــاریخ درخواســـــت یکی از طرفین، حکـــم را تعیـــین مینماید.

(۲)هرگـــاه طـــرفین بـــه طـــرز تعیین حکم ها موافقه نموده باشند، ولی یکی از طرفین طبق طرزالعمل تعیین حکم هـــا عمـــل ننمایـــد، یا طرفین، یـــاحکم هـــا نتواننـــد طبق طرزالعمل، به موافقهٔ متوقعـــه نایل شوند یا شخص ثالث بشمول

شمول ثالث شخص هغه وجیبې چې د یادې شوې کړنلارې مطابق هغوی ته سپارل شوي، ونشي کړی سرته ورسوي، پدې صورت کې له اړخونوڅخه هر یوکولای شي له محکمې څخه د لازمو تدبیرونو نیول وغواړي،خو داچې په موافقه لیک کې بل ډول تصریح شوي وي.

(۳)که چېرې حکم ددې مادې په (۱ او۲)فقره کې دمحکمې لخوا وټاکل شي، پدې صورت کې دحکم دغوره کېدوشرایط د اړخونو د موافقه لیک مطابق په لاندې توگه په پام کې نیول کېږي:

۱–له اړوند قانون څخه دحکم خبرتیا او د لازمو سوداگریزو او اقتصادي تجربو لرل.

۲–خپلواکتوب او ناپلوي.

۳–داړخونوله تابعیت څخه دمتفاوت تابعیت لرل.

(۴)ددې مادې په (۱ او۲) فقره کې د درج شوو موضوعگانو په هکله د

دفاترحکمیت وجایبی را که طبق طرزالعمل متذکره به آنان محول شده است ،نتوانند انجام دهند، دراینصورت هریک از طرفین میتواند از محکمه اتخاذ تدابیر لازم را درخواست نماید، مگر اینکه درموافقتنامه طور دیگری تصریح شده باشد.

(۳)هرگاه حکم درحالات مندرج فقرات (۱ و۲) این ماده از طرف محکمه تعیین گردد، دراینصورت شرایط انتخاب حکم طبق موافقتنامهٔ طرفین حسب ذیل رعایت میگردد:

۱–آگاهی حکم از قانون مربوط و داشتن تجارب لازم تجارتی واقتصادی.

۲–استقلالیت و بیطرفی.

۳–داشتن تابعیت متفاوت از تابعیت طرفین.

(۴)قرار محکمه درخصوص موضوعات مندرج فقرات

محکمـــــې قـــرار د اعتـــــراض وړ ندی.

## دحکم ورپېژندل

شلمه ماده :

دحکم په توګه معرفی شوی شخص مکلف دی له انتصاب دمخـــه یـــا وروسته یا دحکمیت په بهیر کـــې دخپل شخصیت او په ځان پورې د نورو اړوندو احوالو په هکله چـــې دخپلواکتوب او ناپلوۍ په هکله یې دشک او تردید دله منځه تلو موجب کېږي، دشخړې اړخونـــو تـــه لازم معلومات وړاندې کړي، خو داچې دمخه یې پدې هکله دهغـــۀ لخـــوا معلومـــــات ترلاســـــه کـــــړي وي.

## دحکم ردېدل

یوویشتمه ماده:

(۱) حکم په هغۀ صورت کې رد یا داعتراض وړګرځي چې خپلواکتوب اوناپلوي یې ترشک اوتردید لاندې راشي یا د اړخونو دتوافق د اهلیت

(۱ و ۲) این ماده قابل اعتـــراض نمی باشد.

## معرفی حکم

مادۀ بیستم:

شخص معرفی شـــده بـــه حیـــث حکـــم مکلـــف اســـت قبـــل از انتـــصاب یـــا بعـــد از آن یـــا درجریان روند حکمیت راجع بـــه شخـــصیت و ســـایر احـــوا ل مربوط به خود که موجب از بـــین رفتن شـــک و تردیـــد درمـــورد اســـتقلالیت و بـــی طرفـــی اش میگردد، به طرفین منازعه معلومات لازم ارائه نماید، مگراینکـــه قـــبلاً درمـــورد از جانـــب وی اطـــلاع یافته باشند.

## رد حکم

مادۀ بیست ویکم:

(۱)حکم درصورتی مورد رد یـــا اعتراض قرارگرفته میتوانـــد کـــه بیطرفی و اســـتقلالیت وی تحـــت شک و تردید واقع شود، یا فاقـــد

نه لرونکی وي.

(۲)هېڅ یو له اړخونوڅخــه نــشي کولای هغه حکم ئې چــې ټــاکلی یا یې په ټاکلو موافقــه کــړې وي، تراعتراض لاندې ونیسي، خوداچې ملزم لوری دحکــم دټــاکلو تــر وروسته مودې پورې دهغهٔ د اهلیت د نه لرلو په هکله خبرتیاومومي.

(۳)اړخونه کولای شي ددې قانون دڅلېریشتمې مادې دحکم له په پام کې نیولو سره،دحکم پرضد د رد یا اعتراض دکړنلارې په هکله ، موافقه وکړي.

## دحکم د رد په هکله دحکمیت دبورډ تصمیم

دوه ویشتمه ماده:

که چېرې اړخونو دحکــم پرضــد داعتراض د کــړنلارې پــه هکلــه مخکې موافقه کړې نــه وي،پــدې صورت کې هغه لوری چې دحکم د، رد غوښتونکی وي، کــولای شــي د(۱۵) ورځــو پــه تــرڅ کــې ،

اهلیت توافق طرفین باشد.

(۲)هیچ یک از طرفین نمی توانند حکمی را که تعیین یا به تعیـــین آن موافقه نمــوده ،مــورد اعتــراض قرار دهــد، مگراینکــه طــرف ملزم الی زمان بعد از تعیین حکــم در مورد فاقد اهلیــت بــودن آن آگاهی یابند.

(۳)طرفین میتوانند با نظرداشـــت حکــم مــادهٔ بیــست وچهــارم این قانون در مورد طرزالعمل رد یا اعتراض برعلیه حکــم، موافقــه نمایند.

## تصمیم بورد حکمیت در مورد رد حکم

مادهٔ بیست و دوم:

هرگاه طرفین درمورد طرزالعمــل اعتراض برعلیه حکم قبلاً موافقــه نکـــرده باشـــند، دراینـــصورت طرفی کــه خواهــان رد حکــم باشد، میتواند در خلا ل ۱۵ روز از حـــصول اطـــلاع در مـــورد

دحکمیت دبورډ دترکیب په هکلـــه دخبرتیا له ترلاسه کولـــو یـــا ددې قانون په درویشتمه ماده کې د درج شووشرایطو په هکله دخبرتیـــا لـــه ترلاسه کولو ،لیکلی لیک دحکم د رد د دلیلونـــو پـــه یـــادولو ســـره دحکمیت بـــورډ تـــه واســـتوي او دحکمیت بورډ دنومړي اعتـــراض په هکله تصمیم ونیسي، خودا چـــې داعتراض وړ حکم، له خپلې دندې څخه استعفي وکړي یابل لوری دحکم د رد په اعتراض،موافقه وکړي.

## دحکم د رد په هکله دمحکمې تصمیم

**درویشتمه ماده:**

که چېرې دحکم پرضـــد اعتـــراض دکړنلارې مطابق ، دارخونو دتوافق وړ یا ددې قانون د دوه ویـــشتمې مادې دحکم مطابق وارد نـــه وي ، پدې صورت کې اعتراض کوونکی لوری کولای شي د اعتـــراض د رد په اړه د حکمیت د بورډ دتصمیم په

ترکیب بورد حکمیت و یا حصول اطلاع در مورد شـــرایط منـــدرج مادۀ بیست وسوم این قانون، نامۀ کتبی را با ذکر دلایـــل رد حکـــم به بورد حکمیت ارسال و بـــورد حکمیـــت در مـــورد اعتـــراض متذکره تـــصمیم اتخـــاذ نمایـــد، مگراینکـــــه حکـــــم مـــــورد اعتـــــراض، از ســـــمت خـــــود اســـتعفاء نمایـــد و یـــا طـــرف دیگـــر بـــه اعتـــراض ردحکـــم، موافقه نماید.

## تصمیم محکمه در مـــورد رد حکم

**مادۀ بیست و سوم:**

هرگاه اعتـــراض برعلیـــه حکـــم طبق طرزالعمـــل، مـــورد توافـــق طرفین یـــا طبـــق حکـــم مـــادۀ بیـــست و دوم ایـــن قـــانون وارد نباشـــد، دراینـــصورت طـــرف اعتراض کننده میتوانـــد بعـــد از دریافـــت اطلاعیـــه درمـــورد

هکله دخبرتیا لــه ترلاســه کولــو وروسته ،د(۳۰) ورځو په ترځ کې، داعتراض په اړه دتصمیم د نیولــو لپاره ،محکمې ته مراجعه وکـــړي. دمحکمې قرار د اعتراض وړ ندی ، خود قرار د صادریدو تروختــــه ، د اعتراض لاندې دحکمیت بورډ یــا حکم کولای شي دحکمیت څېړنې ته دوام ورکړي اوخپل قرار صـــادر کړي.

## دحکم دماموریت پای

ځلبریشتمه ماده:

(۱)دشخړې اړخونــه پــه لانــدې حالاتوکې کولای شــي دحکــم، حکمانو یا دحکمیت د بورډ د دندې په پاي ته رسېلوموافقه وکړي:

۱-دحکمیت له اجراء کولو څخه دحکم د ډډې کولوپه صورت کې.

۲-دحکمیت د اجراء د نه توانېدنې په صورت کې.

۳-د وفات یا استعفي په صورت کې.

۴-دحکمیت په اجراء کې غیرموجه

تصمیم بورد حکمیت مبنی بــر رد اعتـــــراض، درخـــــلا ل(۳۰)روز جهت اتخـــاذ تـــصمیم پیرامـــون اعتراض، بـــه محکمـــه مراجعـــه نماید. قرارمحکمه قابل اعتـــراض نبوده ولی الی زمان صدور قـــرار، بورد حکمیت یـــا حکـــم مـــورد اعتراض میتواند رسیدگی حکمیت را ادامه داده و قرار خود را صادر نماید.

## ختم ماموریت حکم

مادهٔ بیست و چهارم:

(۱)طـــرفین منازعـــه در حـــالات ذیل میتوانند بـــه خـــتم وظیفـــهٔ حکم، حکم ها یا بورد حکمیـــت توافق نمایند:

۱-درصورت امتنـــاع حکـــم از اجرای حکمیت.

۲-درصورت عدم توانایی اجرای حکمیت.

۳-درصورت وفات یا استعفاء.

۴-تاخیر غیر موجـــه دراجـــرای

ځنډونه.

(۲)که چیرې دسپارل شوو دندوپه اجراء یا سرته رسولو کې د غیرموجه ځنډ په اړه ، د حکم یا حکمانو د نه توانیدنې په هکله داړخونو ترمنځ اختلاف رامنځته شي، پدې صورت کې هر اړخ کولای شي له محکمې څخه دحکم یاحکمانو د دندې پاي ته رسیدل وغواړي،پدې برخه کې د محکمې قرارقطعي دی.

(۳)که چیرې حکم یا حکمان له خپلې دندې څخه استعفي وکړي یا یو اړخ دهغهٔ د دندې په پاي ته رسیدو موافقه وکړي، پدې صورت کې په راوروسته دندو کې دحکم یا حکمانو پرتوانیدنې اغیزه نشي کولی.

(۴)که چیرې دحکمیت په بوره کې دحکم یا حکمانو دندې پاي ته ورسیږي، پدې صورت کې ځای نیوونکی حکم ، ددمخنی حکم

حکمیت.

(۲)هرگاه راجع به عدم توانایی حکم یاحکمین در مورد اجراء یا تاخیر غیر موجه در انجام وظایف محوله، بین طرفین اختلاف بروزنماید، دراینصورت هر یک ازطرفین میتوانند ختم وظیفهٔ حکم یا حکم ها را از محکمه درخواست نمایند. قرار محکمه در زمینه قطعی میباشد.

(۳)هرگاه حکم یا حکم ها از سمت خود استعفا و یا یکی از طرفین به ختم وظیفهٔ وی موافقه نماید، دراینصورت برتوانایی حکم یا حکم ها در وظایف بعدی تاثیر وارد کرده نمی تواند.

(۴)هرگاه وظایف حکم یا حکم ها در بورد حکمیت خاتمه یابد دراینصورت حکم جانشین، طبق قواعد نافذ

پرتاکلو باندې د نافذو قواعدو مطابق منصوبېږي.

## څلورم فصل

## دحکمیت د بورډ

## واکونه

**دحکمیت د بورډ واکونه**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) دحکمیت بورډ د لاندې واکونو لرونکی دی:

۱–په خپل واک کې د ټولو شاملو شخړو حل اوفصل کول.

۲–دحکمیت د موافقــه لیــک د موجودیت یاپې د اعتبار په هکله د اعتراضونو څېړل.

(۲)که چېرې دحکمیت په قرارداد کې کوم حکم یاشرط اتکل شــوی وي،دجلاموافقه لیک په توګه ګڼــل کېږي او په هغهٔ صورت کې چــې دحکمیــــت بــــورډ د قــــرارداد د باطلېدو او لغوه کېــدو تــصمیم ونیسي ،دغه تصمیم په قرارداد کې

بر تعیین حکم قبلـــی، منـــصوب میگردد.

## فصل چهارم

## صلاحیت بورد

## حکمیت

**صلاحیت های بورد حکمیت**

**مادهٔ بیست و پنجم:**

(۱)بورد حکمیت دارای صلاحیت های ذیل میباشد:

۱–حل وفصل تمام منازعات شامل صلاحیت خویش.

۲–رسیدگی به اعتراضات درمورد موجودیت موافقتنامهٔ حکمیت یـــا اعتبار آن.

(۲)هرگاه حکمی یـــا شـــرطی در قرارداد حکمیت پیش بینی شـــده باشد، به حیث موافقتنامهٔ جداگانه پنداشته شده و درصورتیکه بـــورد حکمیت به بطلان و الغای قرارداد تصمیم اتخاذ نماید، این تـــصمیم حکم یا شرط منـــدرج قـــرارداد،

درج شوی حکم یا شرط له اعتباره نشي غورځولی.

## دحکمیت دبورډ د واک د رد ادعا

شپږویشتمه ماده:

اړخونه کولای شي دحکمیت د بورډ د رد یا دنه واک ادعا د دفاعیې له وړاندې کولو دمخه د حکمیت بورډ ته اقامه کړي. لاندې حالات لدې حکم څخه مستثني دي:

۱-په هغهٔ صورت کې چې هریو له اړخونوڅخه دحکم یا حکمانو یا دحکمیت د بورډ په غوره کولو یا ټاکلو کې ګډون ولري اودهغو د واک د رد غوښتنه وکړي.

۲-په هغهٔ صورت کې چې یوله اړخونوڅخه، له خپل واک څخه دحکمیت د بورډ دعدول ادعا دهغې ادعا دڅېړني په وخت کې چې په هکله ئې عدول صورت موندلی دی، اقامه کړي.

۳-په هغهٔ صورت کې چې یوله اړخونوڅخه

حکمیت را ازاعتبار ساقط ساخته نمی تواند.

## ادعای رد صلاحیت بورد حکمیت

مادهٔ بیست وششم:

طرفین میتوانند ادعای رد یا عدم صلاحیت بورد حکمیت را قبل از تقدیم دفاعیه به بورد حکمیت اقامه نمایند. حالات ذیل ازاین حکم مستثنی است:

۱-درصورتیکه هر یک از طرفین در انتخاب یا تعیین حکم ،حکم ها یا بورد حکمیت اشتراک داشته باشند و رد صلاحیت آنها را درخواست نمایند.

۲-در صور تیکه هر یک از طرفین ،ادعای عدول بوردحکمیت را از صلاحیت آن حین رسیدگی موضوع که در موردآن عدول صورت گرفته ، اقامه نماید.

۳-درصورتیکه یکی از طرفین

په حکميت کې دڅېړنې دځنډ ادعا وکړي اودحکميت بورډ پدې برخه کې دهغهٔ ادعا موجه وگڼي.

## دحکميت دبورډ تصميم

**اووه ويشتمه ماده:**

دحکميت بورډ کولای شي ددې قانون په دوه څلوېښتمه ماده کې د درج شوو دعواوو د اقامې يا دقضيې په هکله د قراردصادرېدو په ترڅ کې ، تصميم ونيسي.

## دمحکمې دقرارصادرېدل

**اته ويشتمه ماده:**

که چېرې دحکميت بورډ دهغې شخړې د رامنځته کېدو په وخت کې چې څېړل يې دهغهٔ واک دی، تصميم ونيسي ،پدې صورت کې هريو اړخ کولای شي دخبرتيا له ترلاسه کولو وروسته، د(۳۰)ورځو په ترڅ کې پدې هکله محکمې ته مراجعه وکړي او دقرار دصادرېدو غوښتونکی شي،دمحکمې قرارد اعتراض وړ ندی.

ادعای تاخير در رسيدگی حکميت را نمايد و بورد حکميت ادعای وی را در مورد مؤ جه بداند.

## تصميم بورد حکميت

**مادهٔ بيست وهفتم:**

بورد حکميت ميتواند حين اقامه دعاوی مندرج مادهٔ چهل ودوم اين قانون يا حين صدور قرار در مورد قضيه، تصميم اتخاذ نمايد.

## صدور قرار محکمه

**مادهٔ بيست وهشتم:**

هرگاه بورد حکميت حين بروز منازعه که رسيدگی آن در حيطهٔ صلاحيت اش قرار دارد ،تصميم اتخاذ نمايد، دراينصورت هريک از طرفين ميتوانند بعد از دريافت اطلاعيه درخلال (۳۰) روز در مورد به محکمه مراجعه و خواهان صدور قرار گردند، قرارمحکمه قابل اعتراض نميباشد.

که چېرې محکمــې پــدې هکلــه قرارصادرکړی نه وي، دحکميــت بورډ کولای شي څېړنــې تــه دوام ورکړي او خپل قرارصادرکړي.

**د احتياطي تدبيرونو نيول**

نهه ويشتمه ماده :

(۱) دحکميت بورډ کــولای شــي دهريوۀ اړخونو څخه دغوښتنليک له مخې، دڅېړنې په بهيرکې دمدعي بها دساتنې لپاره،ثالــث شــخص تــه دهغودسپارلو يادسريع الفساد مالونو دپلورنې په شمول،احتياطي تدبيرونه ونيسي اومؤقت قرار صادر کــړي، خــــوداچې اړخونــــو بــــل ډول موافقه کړې وي.

(۲)دحکميت بورډ کولای شــي ، ددې مادې په(۱)فقره کــې د درج شوو احتياطي تدبيرونو د لگــښتونو جبران له اړخونو څخه وغواړي.

(۳)له محکمې څخــه د احتيــاطي تدبيرونودنيولو دقرار دصادرولولپاره له اړخونوڅخــه دهريــوۀ غوښــتليک ،

هرگاه محکمه درمورد قرارصـــادر ننموده باشد، بورد حکميت ميتواند به رسيدگی ادامــه داده و قــرار خودرا صادر نمايد.

**اتخاذ تدابير احتياطی**

مادۀ بيست ونهم:

(۱)بورد حکميت ميتواند بــالاثر درخواست هريــک از طــرفين، درجريان رسيدگی جهت حفاظت مدعی بها بشمول سپردن آنها بــه شخص ثالث يا فروش اموال سريع الفساد، تــدابير احتيــاطی لازم را اتخــــاذ و قــــرار موقــــت را صــــادرنمايد،مگراينکه طــــرفين طورديگری موافقه نموده باشند.

(۲)بورد حکميت ميتواند جبــران مصارف تدابير احتيــاطی منــدرج فقرۀ (۱) اين مــاده را ازطــرفين درخواست نمايد.

(۳)درخواســــــت هريکـــــــی از طرفين، جهت صــدور قــرار اتخــــاذ تــــدابير احتيــــاطی از

دحکمیت د موافقه لیک نقض یا له هغۀ څخه تېرېدل انصراف نه ګڼل کېږي.

## پنځم فصل

## دحکمیت دڅېړنې

## اجراء

**منصفانه چلند**

**دېرشمه ماده :**

دحکمیت بورډ مکلف دی دشخړې دڅېړنې په وخت کې له اړخونو سره منصفانه اومساویانه چلند وکړي اوهر یوۀ ته د دلیلونو او مدرکونو د وړاندې کولو لپاره ، لازم فرصت ورکړي.

**دکړنلارې مطابق اجراآت**

**یو دېرشمه ماده :**

(۱) اړخونه کولای شي ددې قانون دحکمونو له په پام کې نیولو سره، دحکمیت د بورډ دڅېړنې د اجراء پرکړنلارې موافقه وکړي.

(۲) که چېرې اړخونو دحکمیت د بورډ دڅېړنې د اجراء پرکړنلارې

محکمه، نقض موافقتنامه حکمیت و انصراف ازآن پنداشته نمیشود.

## فصل پنجم

## اجرای رسیدگی

## حکمیت

**برخورد منصفانه**

**مادۀ سی ام:**

بورد حکمیت مکلف است حین رسیدگی منازعه با طرفین، برخورد منصفانه ومساویانه نموده و به هریک از آنها جهت ارائۀ دلایل و مدارک، فرصت لازم را فراهم نماید.

**اجراآت طبق طرز العمل**

**مادۀ سی و یکم:**

(۱)طرفین میتوانند با رعایت احکام این قانون بر طرزالعمل اجرای رسیدگی بورد حکمیت موافقه نمایند.

(۲)هرگاه طرفین به طرزالعمل اجرای رسیدگی بورد

موافقه نه وي کړې يا ونشي کــړی پرهغې بانــدې موافقــه وکــړي، دحکميت بورډکــولای شــي،ددې قــانون دحکمونــو مطــابق،دمنلو وړ والي، مربوط والي او داثباتيــه مدرکونو داهميــت او دمــدرکونو وړاندې کولو ته د اړخونو دمکلفولو په هکله دتصميم دنيولو په شمول د مجازاتو د وضع کولــو لــه لارې حکميت په مناســبه توگــه ســرته ورسوي.

## دحکميت د دفترټاکل

دوه دېرشمه ماده :

که چېرې اړخونو دحکميت دفتــر چې حکميت يې ترقيموميت لاندې صورت مومي،مشخص کړی نه وي يا ونکړی شي په هغهٔ باندې موافقه وکړي، پدې صورت کې دحکميت دفتر دمحکمې په واسطه ټاکل کېږي اودغه پرېکړه داعتراض وړنده.هغه حالات چې اړخونوموافقه کړې وي چې حکميت دې دحکميت د دفتر

حکميت موافقه ننمــوده باشــند يا نتوانند بر آن موافقــه نماينــد، بــــورد حکميــــت ميتوانــــد طبق احکام اين قانون، حکميــت را طور مناسب به شــمول اتخــاذ تصاميم در مــورد قابــل قبــول بودن، مــرتبط بــودن و اهميــت مــــدارک اثباتيــــه و مکلــــف ساختن طرفين منازعه بــه ارائــهٔ مدارک، از طريق وضع مجــازات انجام دهد.

## تعيين دفتر حکميت

مادهٔ سی و دوم:

هرگـــاه طـــرفين، دفترحکميــت را که حکميت تحــت قيموميــت آن صورت ميگيــرد، مــشخص ننمــــوده يــــا نتواننــــد بــــه آن موافقــــه نماينــــد، دراينــــصورت دفترحکميــــت توســــط محکمــــه تعيــــين و ايــــن فيــــصله قابــــل اعتراض نمی باشــد. حالاتيکــه طــرفين موافقــه نمــوده باشــند

ترقیمومیت لاندې صورت ونه مومي، لدې حکم څخه مستثنی دي.

## دحکمیت دځای ټاکل

**درې دېرشمه ماده:**

(۱) اړخونه کولای شي دحکمیت د ځای په هکله موافقه وکړي، دنه موافقې په صورت کې ،دحکمیت ځای اړخونو ته د رسېدو د اسانتیا په شمول دقضیې دحالاتوله په پام کې نیولو سره، دحکمیت دبورډ په واسطه ټاکل کېږي.

(۲)دحکمیت بورډ کولای شي د بورډ دغړوترمنځ دمشورې، دشاهدانود اظهاراتود اورېدو، داهل خبره وو لخوا دنظر دڅرګندولو یا د اړخونو دحضور یا دسندونو، مالونو او نورو شتمنیو دپلټنې او کتنې لپاره په هرځای کې چې مناسب یې وګڼې ،غونډه جوړه کړي،خو داچې اړخونوبل ډول موافقه کړې وي.

که حکمیت تحت قیمومیت دفترحکمیت صورت نگیرد، از این حکم مستثنی است.

## تعیین محل حکمیت

**مادۀ سی و سوم:**

(۱)طرفین میتوانند در مورد محل حکمیت موافقه نمایند، درصورت عدم توافق، محل حکمیت توسط بورد حکمیت با نظرداشت حالات قضیه، بشمول سهولت رسیدگی به طرفین تعیین میگردد.

(۲)بورد حکمیت میتواند جهت مشوره میان اعضای بورد، استماع اظهارات شهود، ابراز نظر از طرف اهل خبره یا حضور طرفین یا تفتیش ومعاینه اسناد، اموال و سایردارایی ها، هرمحلی را که مناسب تشخیص دهند، تدویر جلسه نمایند، مگراینکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

(۳)دحکمیت بـورډ مکلـف دی دسندونو،مالونو او نـورو شـتمنیو دپلټنې اوکتنې په منظـورد بـورډ اورېدو اوغونډو لپاره یـوه مـوده وټاکي او اړخونه خبرکړي.

## دحکمیت دڅېړنې پیل

**څلوردېرشمه ماده:**

د اړوندې شخړې په برخـه کـې دحکمیت څېړنه له هغې نېټې څخه پیل کېږي چې مدعي علیه دحکمیت پـه اړه غوښـتنلیک ترلاسـه کړي،خوداچې اړخونـو بـل ډول موافقه کړې وي.

## دحکمیت په بهیـر کـې لـه ژبوڅخه ګټه اخستل

**پنځه دېرشمه ماده:**

اړخونه کولای شي دحکمیت پـه څېړنه کې دګټې اخستنې په وړ ژبې یا ژبو باندې موافقه وکـړي. دنـه موافقې په صورت کې دحکمیـت بورډ، په څېړنه کې د ګټې اخستنې وړ ژبه یا ژبې ټاکي.د اړخونو لیکلي

(۳)بورد حکمیت مکلف اسـت جهت استماع و جلـسات بـورد بمنظور تفتیش و معاینـۀ اسـناد، اموال و سایر دارایی ها، مـدتی را تعیین و طرفین را مطلع سازد.

## آغاز رسیدگی به حکمیت

**مادۀ سی و چهارم:**

رسیدگی حکمیـت درخـصوص منازعۀ مربوط، ازتـاریخ آ غـاز میگردد که مدعی علیه درخواست مبنی بر حکمیت را دریافت نماید، مگراینکه طرفین طـور دیگـری موافقه نموده باشند.

## اسـتفاده از زبانهـا دررونـد حکمیت

**مادۀ سی و پنجم:**

طرفین میتوانند بر زبان یا زبان های مورد استفاده دررسیدگی حکمیت موافقه نمایند. درصـورت عـدم موافقه، بورد حکمیت زبان یا زبان های مورد استفاده در رسیدگی را تعیین میکنند. بیانات کتبی طرفین،

بيانونـــــه، د اظهاراتواوربـــــدل او دقرارصادربدل،دبورډ تـــصميم يـــا نورې ابلاغيې په ټاکل شـــوې ژبـــه صورت مومي، خودا چې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

دحکميت بورډ کولای شي دمستندو مدرکونو دژباړې په هکله د اړخونو په موافقه شوې ژبه يـــا ژبـــو يـــا دحکميت د بورډ لخوا پـــه ټاکـــل شووژبوپه هکله، تصميم ونيسي.

## د ادعا او دفــاعيې د دليلونـــو وړاندې کول

شپږ دېرشمه ماده:

که چېرې اړخونوپه بل ډول د ادعـــا يـــا د دفاعيې د دليلونو دترتيب په هکله موافقـــه کړې نه وي،د ادعا يا دفــاعيې د دليلونـــو وړاندې کول، د اړخونو ترمنځ د موافقـــه شوې مودې په ترڅ کې يا د څېړنـــې لـــه غونډې څخه وروسته د(۱۵) ورځو په ترڅ کې دلاندې مراتبوله په پام کـــې نيولوســـره صورت مومي:

۱-مدعي مکلف دی، داختلاف وړ

استماع اظهارات و صدور قـــرار، تصميم يا ساير ابلاغيه های بورد، به زبان تعيين شده صورت ميگيرد، مگراينکه طرفين طـــور ديگـــری موافقه نموده باشند.

بورد حکميت ميتوانـــد درمـــورد ترجمهٔ مدارک مستند به زبان يـــا زبان های مورد توافق طرفين يـــا زبان های تعيين شده توسط بـــورد حکميت، تصميم اتخاذ نمايد.

## ارايــــهٔ دلايـــــل ادعـــــا و دفاعيه

مادهٔ سی و ششم:

هرگــــاه طــــرفين طــــور ديگــــری در مــــورد ترتيـــب دلايل ادعا يا دفاعيه موافقه نکرده باشند،ارائهٔ دلايل ادعا يا دفاعيـــه درخلال مدت توافق شـــده بـــين طرفين يا درخلا ل (۱۵) روز بعد از جلسهٔ رسيدگی، بارعايت مراتب ذيل صورت ميگيرد:

۱-مدعی مکلف اســـت دلايـــل

موضوعگانو او دزیان دغوښتل شوي جبران، د ادعــا دلیلونــه شــرح کړي.

۲–مدعي علیه مکلــف دی خپلــه دفاعیه د اختلاف وړ موضوعگانو او دزیان دغوښتل شوي جبران په برخه کې څرگند او دادعا د دفع دلیلونه توضیح کړي.

۳–اړخونه کولای شي پــه قــضیې پورې ټول اړوند سندونه له خپلــو لیکلواظهاراتوسره یوځای دحکمیت بورډ ته وړاندې کړي.

## د دفاعیې اصلاح اوبشپړول

**اووه دېرشمه ماده:**

هریوله اړخونوڅخه کــولای شــي دخپلې دعوي یا دفــاعیې صــورت دحکمیت دڅېړنې په بهیرکې اصلاح یا بشپړه کړي،خوداچې دحکمیت بــورډ دروڼوالي (شفافیت) اوله غیرمؤجهې نېټــې څخه دمخنیوي په منظور ، دهغو اصــلاح کول مناسب ونه گڼي او یا داچــې هغه دحکمیــت د موافقــه لیــک

ادعای موضوعات مورد اختلاف و جبران خسارۀ درخواســت شــده راشرح دهد.

۲–مدعی علیه مکلف است دفاعیه خود را در خصوص موضــوعات مورد اختلاف و جبــران خــسارۀ مطالبه شده، ابراز و دلایل دفع ادعا را توضیح دهد.

۳–طرفین میتوانند تمــام اســناد مربوط به قضیه را توأم با اظهارات کتبی خود بــه بــورد حکمیــت ارائه نمایند.

## اصلاح وتکمیل دفاعیه

**مادۀ سی و هفتم:**

هریکی از طرفین میتوانند صورت دفاع یا دفاعیه خودرا در جریــان رسیدگی حکمیت اصلاح یا تکمیل نمایند، مگراینکه بورد حکمیت به منظور شــفافیت و جلــوگیری از تاریخ غیر موجه ، اصلاحات آنــرا مناسب ندانسته و یا اینکــه آنــرا بــرخلاف موافقتنامــۀ حکمیــت

پرخلاف تشخیص کړي.

**دغونډو دجوړېدو خبرتیا**

**اته دېرشمه ماده:**

(۱)دحکمیت بورډ کولای شي د اړخونو د موافقه لیک مطابق، دشفاهي غونډو د جوړېدو او نورو مواردو په هکله تصمیم ونیسي اودڅېړنې دغونډې له جوړېدو لږترلږه (۳۰)ورځې دمخه یې خبرتیا په لیکلي توګه اړخونوته واستوي.

(۲)دحکمیت بورډ کولای شي، له اړخونوڅخه دیوه د غوښتنلیک له مخې شفاهي څېړنه ، دحکمیت د اجراء په مناسبو پړاوونوکې سرته ورسوي،خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

**دمعلوماتو راټولول**

**نهه دېرشمه ماده:**

دحکمیت بورډمکلف دی رپوټونه، سندونه او نور معلومات چې له اړخونوڅخه دیوهٔ

تشخیص دهد.

**اطلاعیهٔ تدویر جلسات**

**مادهٔ سی و هشتم:**

(۱)بورد حکمیت میتواند طبق موافقتنامهٔ طرفین، در مورد تدویر جلسات شفاهی و سایر موارد تصمیم اتخاذ نموده و حد اقل (۳۰) روز قبل از تدویر جلسهٔ رسیدگی، اطلاعیهٔ آنرا طور کتبی به طرفین ارسال نماید.

(۲)بورد حکمیت میتواند بالاثر درخواست یکی از طرفین، رسیدگی شفاهی را درمراحل مناسب اجرای حکمیت، انجام دهد، مگرانیکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

**جمع آوری معلومات**

**مادهٔ سی ونهم:**

بورد حکمیت مکلف است گزارشات، اسناد و سایر معلوماتیکه توسط یکی از طرفین به

په واسطه هغهٔ ته وړاندې شوي وي، مقابل اړخ ته ابلاغ اوداهل خبـــره رپوټ یا اثباتیه مدرکونه چې دتصمیم په نیولو کې پرې اتکـــاء کېــږي، اړخونوته واستوي.

## حکمیت ته دوام ورکول

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) دحکمیت بورډ کـــولای شـــي حالاتوته په پام ســـره، دحکمیـــت څېړنې ته دوام ورکړي اودبررسۍ وړ مدرکونو پربنسټ ،خپل قرارصـــادر کړي،خوداچې اړخونـــو بـــل ډول موافقه کړې وي.

(۲)که چېرې مدعي ونکړی شـــي خپله صورت دعـــوي ددې قـــانون دڅلورپنځوسمې مادې په (۱)جـــزء کې د درج شوي حکـــم مطـــابق ، وړاندې کړي، پدې صـــورت کـــې دحکمیت بورډ کولای شي دڅېړنې د پاي ته رسېدو په اړه قرار صـــادر کړي.

(۳)که چېرې مدعي علیه ونکـــړی

آن ارائه شده باشد، به طرف مقابل ابلاغ و گزارش اهـــل خبـــره یـــا مدارک اثباتیه را کـــه در اتخـــاذ تصمیم به آن اتکا میگـــردد، بـــه طرفین ارسال نماید.

## ادامه به حکمیت

**مادهٔ چهلم:**

(۱) بورد حکمیـــت میتوانـــد بـــا نظرداشت حالات، رســـیدگی بـــه حکمیت را ادامه دهد و به اساس مدارک مورد بررسی،قرار خود را صادر نماید، مگراینکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

(۲)هرگـــــاه مـــــدعی نتوانـــــد صورت دعـــوی خـــود را طبـــق حکم منـــدرج جـــزء(۱) مـــادهٔ پنجـــاه و چهـــارم ایـــن قـــانون ارائـــه نمایـــد، در اینـــصورت بورد حکمیـــت میتوانـــد قـــرار مبنی بر ختم رســـیدگی راصـــادر نماید.

(۳)هرگاه مـــدعی علیـــه نتوانـــد

شي خپله صورت دفاع ددې قانون د څلورپنځوسمې مادې په (۲) جـــزء کې د درج شوي حکـــم مطـــابق ، وړاندې کړي، پدې صـــورت کـــې دحکميت بورډ کولای شي څېړنـــې ته دوام ورکړي اومدعي عليه تـــه د دفاعيې د وړاندې کولو لپاره مـــوده وټاکي.

(۴)که چېرې يولـــه اړخونوڅخـــه ونکړی شي دڅېړنې په غونډه کـــې حضور ومومي يا لازم ســـندونه او مدرکونه وړانـــدې کـــړي، پـــدې صورت کې دحکميت بورډ کولای شي دحکميـــت څېړنـــې تـــه دوام ورکړي اودڅېړنـــې وړ مـــدرکونو پربنسټ ، خپل قرار صادر کړي.

## دمتخصص ټاکل

**يوڅلوېښتمه ماده:**

(۱)دحکميت بورډ کولای شي يو يا له يوه ځخه زيات متخصصين دهغو شخړو په هکله چې د بورډ ترڅېړنې لاندې نيـــول کېـــږي د رپـــوټ د

صـــــورت دفاعيـــــه خـــــود را طبق حکـــم منـــدرج جـــزء( ۲) مادۀ پنجاه و چهارم ايـــن قـــانون ارائـــه نمايـــد، دراينـــــصورت بورد حکميت ميتواند به رسيدگی ادامه داده و مدتی را غرض ارائـــۀ دفاعيه به مـــدعی عليـــه تعيـــين نمايد.

(۴) هرگـــاه يکـــی از طـــرفين نتواند درجلسۀ رسيدگی حـــضور يابد و يا اسناد و مـــدارک لازم را ارائه نمايد، دراينـــصورت بـــورد حکميت ميتوانـــد رســـيدگی بـــه حکميت را ادامه داده و به اساس مدارک مورد بررسی، قرار خويش را صادرنمايد.

## تعيين متخصص

**مادۀ چهل ويکم:**

(۱)بورد حکميت ميتواند يک يـــا بيش از يک متخصص را جهـــت ارائۀ گزارش، درمورد منازعاتيکـــه تحت رسيدگی بورد قرار ميگيرد،

وړاندې کولو لپاره توظيف کـړي، خوداچې اړخونو بل ډول موافقــه کړې وي.

(۲)دحکمیت بورډ کــولای شــي داړخونوله هریوۀ څخه وغواړي څو اړوند معلومات متخصص ته وړاندې اوسندونه، مالونه او نوره شــتمني دپلټنې اوکتنې لپاره متخــصص تــه برابر کړي.

(۳)متخصص مکلف دی دڅېړنې په غونډه کې د خپل لیکلي یا شــفاهي رپوټ له وړاندې کولو وروســته،له اړخونوڅخــــــــه دیــــــــوۀ دغوښتنې یا د بورډ د لزوم دید له مخــې ، دڅېړنې په غونډه کې ګډون وکړي.

<u>د سندونو غوښتنه</u>

**دوه څلوېښتمه ماده:**

دحکمیت بورډ یا هریوله اړخونــو څخه د اړتیا په صورت کې کولای شي له محکمې یا نورو مراجعو څخه اړوند سندونه او مدارک وغواړي.

توظیف نماید، مگراینکه طــرفین طـــــور دیگـــــری موافقـــــه نموده باشند.

(۲)بورد حکمیت میتواند از هریکی از طرفین درخواست نمایــد تــا معلومات مربوط را به متخــصص ارائهٔ و اسناد، اموال یا سایر دارایی ها را جهت تفتیش و معاینــه بــه متخصص فراهم نماید.

(۳)متخصص مکلف است بعد از ارائه گزارش شفاهی یا کتبی خود درجلسۀ رســیدگی، درصــورت درخواست یکی از طرفین یا لزوم دید بــورد، درجلــسۀ رســیدگی اشتراک نماید.

<u>درخواست اسناد</u>

**مادۀ چهل ودوم:**

بورد حکمیت یا هریک از طــرفین درصورت ضــرورت میتواننــد از محکمه یاسایر مراجــع اســناد و مدارک مربوط رادرخواست نمایند.

## شپږم فصل

## دحکمیت د قرار صادرېدل

## او دخېړنې پای

**دتطبیق وړ قانون**

**دري څلوېښتمه ماده:**

(۱)دحکمیت بورډ دشخړې په هکله ، د اړخونو لخوا دمشخص شـوي قانون دحکمونو مطـابق ، تـصمیم نیسي.

(۲)د اړخونو لخوا د قـانون دنـه ټاکلو په صورت کـې او پداسـې حالت کې چې په قوانینوکې تنـازع وجود ولري ، دحکمیـت بـورډ کولای شي، پرشخړې باندې دتطبیق وړ قانون، وټاکي.

**دمنځګړي په توګه دحکم نـه ټاکل**

**څلور څلوېښتمه ماده:**

که چېرې دقضیې اړخونه له حکـم څخه وغواړي څو د متنـازع فیـه قضیې د حل اوفصل په برخه کې د

## فصل ششم

## صدور قرار حکمیت و

## خاتمۀ رسیدگی

**قانون قابل تطبیق**

**مادۀ چهل و سوم:**

(۱)بورد حکمیت درمورد منازعه، طبق احکام قانون مشخص شـده توسط طـرفین، تـصمیم اتخـاذ مینماید.

(۲)درصـــورت عـــدم تعیـــین قـــانون از جانـــب طـــرفین و در حالتیکه تنازع درقوانین وجود داشته باشد، بورد حکمیت میتواند قـانون قابـل تطبیـق برمنازعـه را تعیین نماید.

**عدم تعیـین حکـم منحیـث میانجی**

**مادۀ چهل وچهارم:**

هرگاه طرفین قضیه، ازحکم مطالبه نماید تا درقسمت حل وفصل قضیه متنازع فیه وظیفۀ میانجی را اجـرا

منځګړي دنده اجراء کړي، حکم نشي کولای دغه دنده سرته ورسوي، پدې صورت کې اړخونه کولای شي،بل شخص دمنځګړي په توګه وټاکي.

<u>د تصمیم دنیولو ډول</u>

پنځه څلوېښتمه ماده:

هغه شخړه چې له یوه څخه د زیاتو حکمانو په واسطه ترڅېړنې لاندې نیول کېږي، دهغې په هکله تصمیم ، دغړو د اکثریت رایو پربنسټ نیول کېږي، خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

دحکمیت دڅېړنې کړنلاره د بورډ د رئیس لخوا ټاکل کېږي،پدې شرط چې اړخونویا دحکمیت د بورډ نوروغړو له هغې سره موافقه کړې وي.

<u>دحکمیت قرار</u>

شپږڅلوېښتمه ماده:

(۱)که چېرې اړخونه دحکمیت د څېړنې په ترڅ کې ، شخړه پخپله

نماید، حکم نمی تواند این وظیفه را انجام دهد، دراینصورت طرفین میتوانند شخص دیگری را به حیث میانجی تعیین نمایند.

<u>طرز اتخاذ تصمیم</u>

مادۀ چهل و پنجم:

منازعه ایکه توسط بیش از یک حکم مورد رسیدگی قرار میگیرد، تصمیم در مورد آن به اساس اکثریت آرای اعضا اتخاذ میگردد، مگراینکه طرفین طور دیگر موافقه نموده باشند.

طرزالعمل رسیدگی حکمیت ازطرف رئیس بورد تعیین میگردد، مشروط براینکه طرفین یا سایر اعضای بورد حکمیت، به آن موافقه نموده باشند.

<u>قرار حکمیت</u>

مادۀ چهل و ششم:

(۱)هرگاه طرفین درخلال رسیدگی حکمیت، منازعه را خود حل و

حل اوفصل کړي، د حکمیت بورډ څېړنه پاي ته رسوي او داړخونو دغوښتنې او دبورډ د موافقې په صورت کې ، توافق دحکمیت د قرار په توګه ثبتوي.

(۲)ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی قرار، ددې قانون په اته څلوېښتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق ترتیب اوصادرېږي اودحکمیت د نورو قرارونو دعین اعتبار لرونکی دی.

## دحکمیت د قرار مندرجات

اووه څلوېښتمه ماده:

(۱)دحکمیت قرار د لاندې مطالبو لرونکی وي:

۱-د قرار لیکلې بڼه اودحکم یا حکمانو په واسطه یې لاسلیک کېدل، دحکمیت دڅېړنې په ترڅ کې چې پکې له یوه څخه زیات حکمان حکمیت کوي، دحکمیت د بورډ د غړو د اکثریت لاسلیک کافي دی، پدې شرط چې د

فصل نمایند، بورد حکمیت رسیدگی را خاتمه و درصورت درخواست طرفین و موافقهٔ بورد، توافق را به حیث قرار حکمیت ثبت مینمایند.

(۲)قرار مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طبق حکم مندرج مادهٔ چهل و هشتم این قانون ترتیب و صادر گردیده و دارای عین اعتبار سایر قرارهای حکمیت میباشد.

## مندرجات قرار حکمیت

مادهٔ چهل و هفتم:

(۱)قرارحکمیت حاوی مطالب ذیل میباشد:

۱-کتبی بودن قرار وامضاء آن توسط حکم یا حکم ها ، حین رسیدگی حکمیت که بیش از یک حکم در آن حکمیت مینماید، امضای اکثریت اعضای بورد حکمیت کافی است، مشروط براینکه دلیل امضا های

غيرموجودو لاسليکونو دليل ذکر شي.

۲–دهغو دليلونو يا دول چې قرار يې پربنا ولاړ دی ،خوداچې اړخونو د دليلونو پرنه وړاندې کولو موافقه کړې وي يا داچې قرار ددې قانون د اووه څلويښتمې مادې له مخې ، دتوافق له امله صورت موندلی وي.

۳–دحکميت د قرار د صادرېدو نېټه او ځای.

(۲)دحکميت د بورډ ددندې دڅېړنې بهير، په متنازع فيه قضيه کې د قرار له صادرېدو وروسته پای ته رسېږي.

(۳)ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی قرار د اړخونو په شمېر ترتيبېږي او يو يونقل يې هغو ته سپارل کېږی اوبل يې دحکميت د بورډ په دفتر کې ساتل کېږي.

غير موجود ذکر شود.

۲– ذکر دلايلی که قرار بر آن مبتنی است، مگراينکه طرفين برعدم ارائۀ دلايل موافقه نموده باشند، يا اينکه قرار به تأسی از حکم مادۀ چهل وهفتم اين قانون، بالاثر توافق صورت گرفته باشد.

۳–تاريخ و محل صدور قرار حکميت.

(۲)روند رسيدگی به وظيفۀ بورد حکميت، بعد از صدور قرار درقضيه متنازع فيه خاتمه می يابد.

(۳)قرارمندرج فقرۀ (۱) اين ماده به تعداد طرفين ترتيب و يک، يک نقل آن به آنها سپرده شده و نقل ديگر آن به دفتر بورد حکميت حفظ ميگردد.

# رسمي جریده

## دحکمیت دڅېړنې دبهیرپای

**اته څلوېښتمه ماده:**

دحکمیت بورډ کولای شي په لاندې حالاتو کې د حکمیت دڅېړنې پای اعلام کړي:

۱–په هغهٔ صورت کې چې مدعي له خپلې ادعا څخه انصراف وکــړي، خوداچې مدعي علیه دمدعي پرضد متقابله ادعاء ولري، یا مدعي علیـــه دمدعي له لوري د ادعا د انصراف پرضد، اعتراض ولري اودحکمیـــت بورډ دمدعي علیه قانوني او مؤجهې گټې دشخړې په وروستي حـــل او فصل کې ومومي.

۲–په هغهٔ صورت کې چې اړخونه د څېړنې پرپای ته رســېدو موافقـــه وکړي.

۳–په هغــهٔ صــورت کــې چــې دحکمیت بورډ ومومي چې دڅېړنې دوام د نورو مؤجهو دلیلونو له مخې غیرضروري او غیرممکن وي.

## ختم روند رسیدگی حکمیت

**مادهٔ چهل و هشتم:**

بورد حکمیت میتواند درحـــالات ذیل ختم رســـیدگی حکمیـــت را اعلام نماید:

۱–درصورتیکه مدعی از ادعـــای خود انصراف نمایـــد، مگراینکـــه مدعی علیه برعلیه مدعی ادعـــای متقابل داشته باشد، یا مدعی علیـــه برعلیه انـــصراف ادعـــا ازطـــرف مدعی، اعتراض داشته باشد وبورد حکمیت منافع قـــانونی وموجـــه مدعی علیه را در حل وفصل نهایی منازعه دریافت نماید.

۲–درصـــــــورتیکه طـــــــرفین براختتـــــام رســــیدگی توافــــق نمایند.

۳–درصورتیکه بـــورد حکمیـــت دریابـــد کـــه ادامـــهٔ رســـیدگی بنابرسایردلایل موجه، غیر ضروری وغیرممکن باشد.

## دتېروتنو اصلاح

**نهه څلوېښتمه ماده:**

له اړخونوڅخه هریوکولای شي، د حکمیت د قرار د ترلاسه کولو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې یا په بله موده کې چې د اړخونو د موافقې وړ وي، مقابل اړخ ته دخبرتیا په استولو سره دحکمیت له بورډ څخه وغواړي څوحسابي،انشایي او طباعتي تېروتنې یا ورته تېروتنې په قرار کې اصلاح یا د قرارمشخص ټکي څرګندیائې ځنې برخې وړاندې کړي، په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت بورډ نوموړې غوښتنه مؤجه وګڼي، مکلف دی د تېروتنې تصحیح یا دقرار د توضیح وړاندې کول، دغوښتنلیک د ترلاسه کولو له نېټې څخه د(۳۰) ورځو په ترڅ کې سرته ورسوي.

توضیح،د قراریوه برخه جوړوي.

دحکمیت بورډ کولای شي پورته یادې شوې تېروتنې په خپله اصلاح کړي.

## اصلاح اشتباهات

**مادهٔ چهل ونهم:**

هریک از طرفین میتوانند در خلال (۳۰) روز ازتاریخ دریافت قرار حکمیت یا درمدت دیگری که مورد توافق طرفین باشد، با ارسال اطلاعیه به طرف مقابل از بورد حکمیت درخواست نماید تا اشتباهات حسابی، انشایی و طباعتی یا اشتباهات مشابه در قرار را اصلاح یا توضیح نکات مشخص یا بخش هایی از قرار را ارائه نماید، درصورتیکه بوردحکمیت درخواست متذکره را موجه پندارد، مکلف است تصحیح اشتباه یا ارائهٔ توضیح قرار را درخلال (۳۰) روز ازتاریخ دریافت درخواست، انجام دهد.

توضیح، قسمتی از قرار را احتوا مینماید.

بورد حکمیت میتواند اشتباهات فوق الذکر را خود اصلاح نماید.

**دبشپړتیايي قرار صادرېدل**

**پنځوسمه ماده:**

له اړخونوڅخه هریوکــولای شــي مقابل لوري ته دخبرتیا په اســتولو سره ، دحکمیت د قرار دترلاســه کولوله نېټې څخه د(۳۰)ورځوپــه ترڅ کې، دحکمیت له بورډ څخــه غوښتنه وکړي څوبل قرار (بشپړتیايي قرار) دهغو ادعاګانو په هکله چــې دڅېړنې په غونډه کې وړاندې شوي خوپه قرار کې حذف شــوي دي، صادر کړي. په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت بورډ نوموړی غوښتنلیک مؤجه وګڼي، مکلف دی،د بشپړتیايي قرار په هکلــه ، دغوښــتنلیک د ترلاسه کولو له نېټې څخــه د(۶۰) ورځو پــه تــرڅ کــې ، تــصمیم ونیسي.

**د مودې تمدیدېدل**

**یو پنځوسمه ماده:**

دحکمیت بورډ کولای شــي هغــه موده چې په ترڅ کې یې د دې قانون

**صدور قرار تکمیلی**

**مادۀ پنجاهم:**

هریکی از طرفین میتواند با ارسال اطلاعیه به طرف مقابل، درخلا ل (۳۰) روز از تاریخ دریافت قــرار حکمیــت، ازبــورد حکمیــت درخواســت بــه عمــل آورد تا قرار دیگــر(قــرار تکمیلــی) را درمــورد ادعــا هــایی کــه در جلسه رسیدگی ارائه ولــی در قرار حذف شده اســت، صــادر نماید. درصورتیکه بورد حکمیــت درخواست متذکره را موجه پندارد، بــورد مکلــف اســت در مــورد قــرار تکمیلــی در خــلا ل (۶۰) روز ازتــاریخ دریافــت درخواســت، تــصمیم اتخاذ نماید.

**تمدید میعاد**

**مادۀ پنجاه و یکم:**

بورد حکمیــت میتوانــد میعــاد را کــه در خــلا ل آن مطــابق

د (۵۰ او ۵۱)مـــادې دحکمونـــو مطابق، اصلاح او توضیح صـــورت مومي یا بشپړتیايي قرار صـــادرېږي، دمناسب وخت مودې لپاره تمدیـــد کړي.

<u>د اته څلوېښتمې مادې په پام کې نیول</u>

دوه پنځوسمه ماده:

دحکمیت بورډ مکلف دی د قرار د اصلاح او توضیح یا دبشپړتیايي قرار د صادرېدو په ترڅ کې ، ددې قانون په اته څلوېښتمه ماده کې درج شوی حکم په پام کې ونیسي.

## اووم فصل

## پرقرار باندې اعتراض

<u>دحکمیت د قرارفسخ</u>

دري پنځوسمه ماده:

محکمه کولای شي دحکمیت د قرار دفسخې په اړه له اړخونوڅخه د یوۀ د اعتراض یا غوښتنې په صورت کې په لاندې حالاتو کې دحکمیت قرار

احکـــــام مـــــواد (۵۰ و ۵۱) این قانون اصلاح و توضیح صورت میگیرد یا قرار تکمیلـــی صـــادر میگردد، برای مدت زمان مناسب تمدید نماید.

<u>رعایـــــــــت مــــــــــادۀ چهل وهشتم</u>

مادۀ پنجاه و دوم:

بورد حکمیت مکلف است حـــین اصلاح و توضیح قرار و یا اصدار قرار تکمیلی، حکم مندرج مـــادۀ چهـــل وهـــشتم ایـــن قـــانون را رعایت نماید.

## فصل هفتم

## اعتراض به قرار

<u>فسخ قرار حکمیت</u>

مادۀ پنجاه و سوم:

محکمه میتواند درصورت اعتراض یا درخواســـت یکـــی از طـــرفین مبنی بر فـــسخ قرارحکمیـــت،در حـــالات ذیـــل قـــرار حکمیـــت

**فسخ کړي:**

**۱–په هغهٔ صورت کې چې دموافقه لیک له عاقدینوڅخه یو د دې قانون په څوارلسمه ماده کې د درج شوی حکمیت،د حقوقي اهلیت نه لرونکی وګڼي.**

**۲–په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت موافقه لیک ، دحکمیت اړخونه د شخړې دحل په هکله هغهٔ قانون ته موکول کړي وي چې دافغانستان د قوانینو مطابق ، نوموړی قانون له اعتباره لوېدلی وي.**

**۳–په هغهٔ صورت کې چې متقاضي اړخونوته دحکم دټاکلویا دحکمیت دڅېړنې په هکله لازمه خبرتیا ورکړل شوې نه وي یا ددې قانون دحکمونو مطابق،مدعي دخپلې ادعا په وړاندې کولو باندې قادر نه وي.**

**۴– د دې قانون دحکمونومطابق دبډې (رشوت) یادحکم د تراغېزې لاندې راوستلو یا یې له اړخونوڅخه دیوهٔ له شاهدانو سره د مادي ګټې د**

**را فسخ نماید:**

**۱–درصورتیکه یکی از عاقدین موافقتنامه، حکمیت مندرج مادهٔ چهاردهم این قانون را فاقد اهلیت حقوقی بداند.**

**۲–درصورتیکه موافقتنامهٔ حکمیت، طرفین حکمیت را درمورد حل منازعه به قانون موکول ساخته باشد که قانون مذکور برطبق قوانین افغانستان، فاقد اعتبار باشد.**

**۳–درصورتیکه به طرفین متقاضی درمورد تعیین حکم یا رسیدگی حکمیت اطلاع لازم داده نشده باشد یا طبق احکام این قانون مدعی به ارائه ادعای خود قادرنباشد.**

**۴–درصورت رشوه یا تحت تاثیر قرار دادن حکم یا تضاد منفعت مادی وی با یکی از طرفین، شهود**

تضاد یا دحکمیت د موضوع د پــه وخت نه څېړلو په صورت کې.

۵–په هغهٔ صورت کې چې دشخړې په هکله هغه قرار صادر شــوی وي چې دحکمیت په موافقه لیک کې په پام کې نیول شوی نه وي یــا یــې دتطبیق په ساحه کې واقع نه وي یا پرهغو موضوعگانو باندې د تصمیم لرونکی وي چې حکمیــت تــه د وړاندې کولو وړ موضوعگانو لــه دایرې څخه بهرپاتې وي.

که چېرې دحکمیت له ساحې څخه پربهرموضوعگانو باندې تــصمیم، دحکمیت په ساحه کــې پرشــاملو موضوعگانو،له تصمیم څخه تفکیک شي، پدې صورت کې یوازې د قرار هغه برخه چې دحکمیت له ســاحې څخه پربهرموضوعگانو باندې وي، د اجراء وړ نده.

٦–په هغــهٔ صــورت کــې چــې دحکمیــت د بــورډ ترکیــب یــا دحکمیت کړنلاره د اړخونــو لــه

یا عدم رسیدگی به موقع موضــوع حکمیت، طبق احکام این قانون.

۵–درصورتیکه قــرار درمــورد منازعه صادر شــده باشــد کــه در موافقتنامهٔ حکمیت در نظرگرفته نــشده یــا درســاحهٔ تطبیــق آن واقع نباشد و یا حــاوی تــصامیم برموضوعاتی باشــد کــه خــارج از دایــرهٔ موضــوعات قابــل ارائــه بــه حکمیــت، قــرار داشته باشد.

هرگــاه تــصامیم برموضــوعات خارج از ساحهٔ حکمیت از تصامیم بر موضوعات شــامل در ســاحهٔ حکمیت تفکیک شــده بتوانــد، دراینصورت صرف آن بخــشی از قــرار کــه حــاوی تــصامیم برموضــوعات خــارج از ســاحهٔ حکمیت باشد،غیر قابل اجرا است.

٦–درصورتیکه ترکیــب بــورد حکمیت یا طرزالعمل حکمیت بــا موافقتنامهٔ طرفین مطابقت نداشــته

موافقه ليک سره مطابقت ونلري ياد اړخونو موافقه ليک ددې قانون دحکمونوله يوهٔ حکم سره چې پر اړخونودتطبيق وړدی،مغايرت ولري.

۷–که چېرې دحکميت موضوع دافغانستان د قوانينو مطابق دحکميت له لارې دحل اوفصل وړ نه وي يا دحکميت قرار د افغانستان د عامه پاليسۍ مغاير وي.

<u>دفسخ دغوښتنې ميعاد</u>

ځلور پنځوسمه ماده:

اړخونه کولای شي دحکميت د قرار له صادرېدو وروسته ، د دريو مياشتو په ترڅ کې دهغهٔ دفسخې غوښتنه محکمې ته وړاندې کړي.

<u>دبورډ بيا څېړنه</u>

پنځه پنځوسمه ماده:

محکمه کولای شي دحکميت د قرار دفسخې په صورت کې، له اړخونوڅخه ديوهٔ دغوښتنې له امله يا دلزوم له مخې،دحکميت بورډ ته لازم فرصت برابرکړي څو دحکميت

باشد، يا موافقتنامهٔ طرفين با حکمی از احکام اين قانون که برطرفين قابل تطبيق است، مغايرت داشته باشد.

۷–هرگاه موضوع حکميت طبق قوانين افغانستان از طريق حکميت، قابل حل و فصل نبوده يا قرار حکميت مغاير پاليسی عامه افغانستان باشد.

<u>ميعاد درخواست فسخ</u>

مادهٔ پنجاه و چهارم:

طرفين ميتوانند بعد ازصدور قرار حکميت، در خلا ل سه ماه درخواست فسخ آنرا به محکمه ارائه نمايند.

<u>رسيدگی مجدد بورد</u>

مادهٔ پنجاه و پنجم:

محکمه ميتواند درصورت فسخ قرار حکميت، بالاثردرخواست يکی از طرفين يا حسب لزوم، فرصت مناسب را به بورد حکميت فراهم نمايد تا رسيدگی حکميت را

ځېړل بیا پیل یا نور هغه اقدامات چې دحکمیت د قرارد فسخ د له منځه تلو سبب کېږي،وکړي.

## اتم فصل

## دحکمیت دقرار تطبیقول

### دحکمیت دقرارتطبیقول او ردول

شپږ پنځوسمه ماده:

(۱)دحکمیت قرارپرته لدې چې په کوم هېواد کې صادر شــوی دی ، دتطبیق وړ دی.

(۲)دحکمیت قرار په لاندې حالاتو کې ردېدی شي:

۱-په هغهٔ صــورت کــې چــې د حکمیت د موافقه لیک له اړخونــو شخه یو، داهلیت نه لرونکی وي.

۲-په هغــهٔ صــورت کــې چــې دحکمیت قراردهغهٔ قانون پرموجب چې د اړخونو لخوا په موافقه لیــک کې مشخص شوی دی، صادر شوی نه وي.

۳-په هغــهٔ صــورت کــې چــې

مجدداً آغاز یــا ســایر اقــداماتی راکه سبب امحای فــسخ قــرار حکمیت میگردد، اتخاذ نماید.

## فصل هشتم

## تطبیق قرار حکمیت

### تطبیق و رد قرار حکمیت

مادهٔ پنجاه و ششم:

(۱)قرارحکمیت صرف نظرازینکه درکدام کشور صادر شده اســت، قابل تطبیق میباشد.

(۲)قرار حکمیت درحالات ذیل رد شده میتواند:

۱-درصورتیکه یکــی از طــرفین موافقتنامــــهٔ حکمیت،فاقــــد اهلیت باشد.

۲-درصــــورتیکه قرارحکمیــــت به موجب قــانونی کــه توســط طرفین در موافقتنامه مشخص شده اســــت، صــــادر نگردیـــــده باشد.

۳-درصـــــــــورتیکه قـــــــرار

دحکمیت قراردهغهٔ قانون پرموجب صادر شوی وي چې نوموړی قانون له اعتباره لوېدلی وي.

۴-په هغهٔ صورت کې چې قرار دهغهٔ اړخ پرضد صادر شوی وي چې دحکم دټاکلو یا دحکمیت د څېړنې په هکله ورته لازمه خبرتیا ورکړل شوې نه وي یا ددې قانون دحکمونو مطابق د دفاعیې په وړاندې کولو قادر نه وي.

۵-په هغهٔ صورت کې چې قرار دهغې شخړې په هکله صادرشوی وي چې دحکمیت په موافقه لیک کې له هغې څخه تصریح شوې نه وي یا یې دتطبیق په ساحه کې واقع نه وي یا پرهغوموضوعگانو دتصمیم د نیولو لرونکی وي چې د حکمیت د واک له ساحې څخه بهر وي.

په هغهٔ صورت کې چې دتصمیم نیول دحکمیت له ساحې څخه پربهرموضوعگانو ، دحکمیت په ساحه کې پرشاملو موضوعگانو

حکمیت به موجب قانونی صادر شده باشد که قانون مذکورفاقد اعتبارباشد.

۴-درصورتیکه قرار برعلیه طرفی صادر شده باشد که درمورد تعیین حکم یا رسیدگی حکمیت به وی اطلاع لازم داده نشده یا طبق احکام این قانون به ارائهٔ دفاعیه قادر نباشد.

۵-درصورتیکه قرار درمورد منازعه صادر شده باشد که درموافقتنامه حکمیت از آن تصریح نگردیده یا در ساحهٔ تطبیق آن واقع نباشد و یا حاوی اتخاذ تصامیم برموضوعاتی بوده که خارج از صلاحیت حکمیت قرارداشته باشد.

درصورتیکه اتخاذ تصامیم برموضوعات خارج از ساحهٔ حکمیت از اتخاذ تصامیم برموضوعات شامل درساحهٔ

دتصميم له نيولو څخه تفکيک کړل شي، پدې حالت کې يوازې دقـــرار هغه برخه چې دحکميت لپاره پـــر وړانـــدې شـــوو موضـــوعگانو دتـــصميم لرونکـــې ده ، دتطبيـــق وړ ده.

٦-که چېرې دحکميـــت د بـــورډ ترکيب يا دحکميـــت کـــړنلاره د اړخونو له موافقه ليک سره مطابقت ونلري يا دحکميت دموافقه ليک دنه موجوديـــت پـــه صـــورت کـــې ، دحکميـــت د بـــورډ ترکيـــب يـــا دحکميت کړنلاره دهغهٔ هېواد لـــه قانون سره چـــې حکميـــت پکـــې صـــورت مونـــدلی دی، مطابقـــت ونلري.

٧-په هغـــهٔ صـــورت کـــې چـــې دحکميت قرار صادر خـــو تطبيـــق شوی نه وي اودهغهٔ هېواد چې قرار يې دقانون پرموجب صادر شـــوی وي،دمحکمې په واسطه تعليق يـــا لغوه شوی وي.

حکميت تفکيک شـــده بتوانـــد، دراين حالت صرف آن بخـــشی از قـــرار کـــه حـــاوی تـــصاميم برموضـــوعات ارائـــه شـــده برای حکميت است،قابل تطبيـــق ميباشد.

٦-هرگاه ترکيب بورد حکميت يا طرزالعمل حکميت با موافقتنامـــهٔ حکميـــــت طرفين،مطابقـــــت نداشته و يـــا درصـــورت عـــدم موجوديت موافقتنامـــهٔ حکميـــت، ترکيـــب بـــورد حکميـــت يـــا طرزالعمل حکميـــت بـــا قـــانون کشوريکه حکميت در آن صورت گرفته است، مطابقـــت نداشـــته باشد.

٧-درصورتيکه قـــرار حکميـــت صـــادر ولـــی تطبيـــق نگرديـــده و توســـط محکمـــهٔ کـــشوريکه قرار بموجب قـــانون آن صـــادر گرديـــــده، تعليـــق يـــا لغـــو شده باشد.

۸-په هغـﮥ صـورت کـې چـې دحکميت موضوع، دافغانـستان د قوانينوپرموجب دحکميت لـه لارې دحل اوفصل وړنه وي اويا دحکميت دقـرار تطبيقېـدل، دافغانـستان دنافذوقوانينو او مقرراتو مغاير وي.

## داصل سند وړاندې کول

**اووه پنځوسمه ماده:**

هغه اړخ چې دحکميـت د قـرار دتطبيق غوښتنه ولري، مکلـف دی دقرار اصلي اوتصديق شوی سـند ياېې مصدقه نقل دحکميت له اصل موافقه ليک يا يې له مـصدقه نقـل اودافغانستان په يوه ژبه له تـصديق شوې ژباړې سره يوځای،وړانـدې کړي.

## د تضمين وړاندې کول

**اته پنځوسمه ماده:**

په هغﮥ صورت کې چې دحکميـت دقرار دلغوې ياتعليق په اړه غوښتنه، يوې محکمې ته وړاندې او په بلـه محکمه کې دنوموړي قرار دتطبيـق

۸-درصـــورتيکه موضـــوع حکميت،به موجب قوانين افغانستان ازطريق حکميت قابل حل و فصل نبوده و يا تطبيق قرار حکميـت، مغاير قـوانين و مقـررات نافـذﮤ افغانستان باشد.

## ارايﮤ اصل سند

**مادﮤ پنجاه وهفتم:**

طرفيکه درخواست تطبيـق قـرار حکميت را داشته باشد، مکلـف است سند اصلی و تصديق شـدﮤ قرار يا نقل مصدقﮤ آن را معﮤ اصل يانقل مصدقﮤ موافقتنامﮤ حکميت و ترجمﮤ تصديق شدﮤ آنرا به يکی از لسان های رسمی افغانستان ارائـه نمايد.

## ارايﮤ تضمين

**مادﮤ پنجاه و هشتم:**

درصورتيکه درخواست مبنی بر الغا يا تعليق قرار حکميت بـه يـک محکمه ارائه و درمحکمﮤ ديگـر درخواست مبنی بر تطبيـق قـرار

په اړه غوښتنې صورت موندلی وي، پدې حالت کې لـومړۍ محکمـه کولای شي خپل قـرار وځنـډوي اودهغهٔ اړخ چې د قرار تطبیقېـدل غواړي، دغوښتنې پربنسټ مقابـل اړخ دتضمین په وړانـدې کولـو مکلف کړي.

## نهم فصل

## وروستني حکمونه

**دمقـــــررو او کـــــړنلارو وضع کېدل**

**نهه پنځوسمه ماده:**

د ســــوداګرۍ او صـــــنایعو وزارت کــــــولای شـــــي، د دې قــانون دلاښــــه تطبیــــق په منظور مقررې وړاندیز او لایحې او کـــړنلارې وضـــع اوتـــصویب کړي.

**د انفاذ نېټه**

**شپېتمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخـــه

متذکره صورت گرفته باشد، دراین حالت محکمهٔ اولی میتواند قـــرار خـــود را تعویـــق و بـــه اســـاس درخواست طرفی که تطبیق قرار را درخواســـــت میکنـــــد،طرف مقابل را مکلف به ارائهٔ تــضمین نماید.

## فصل نهم

## احکام نهایی

**وضـــــــع مقـــــــرره و طرز العمل ها**

**مادهٔ پنجاه ونهم:**

وزارت تجـــــارت وصــــــنایع میتواند به منظــور تطبیــق بهتــر احکام این قــانون، مقــرره هــا را پیــــــشنهاد و لــــــوایح و طرزالعمل ها را وضع وتــصویب نماید.

**تاریخ انفاذ**

**مادهٔ شصتم:**

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در

# رسمي جريده

نافذ دی اوپه رسمي جريده کې دې خپور شي.په نافذېدو سره يې د ۱۳۷۴ کال په (۷۷۹) گڼه رسمي جريده کې خپره شوې دتجارتي حکميت مقرره او نور مغاير حکمونه لغو گڼل کېږي.

جريدۀ رسمی نشر گردد. با انفاذ آن، مقررۀ حکميت تجارتی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۷۷۹) سال ۱۳۷۴ وساير احکام مغاير آن ملغی شمرده ميشود.